




دا کتاب یو داسې حقیقت څیړي چې که څوک یې منی او که نه یې مني په هر چا کې دی: "هغه څه چې زموږ ژوند جوړوي د هغو برداشتونو یوه ټولګه ده چې زموږ د روح له خوا ترلاسه کیږي. هغه ماده چې الله پیدا کړې ده زموږ نه بهر شتون لري خو موږ یې یوازې تصویر په دماغ کې وینو. موږ د مادې له اصلیت ســـره چې زموږ نه بهر پرته ده مستقیم تماس نه لرو. زموږ نړۍ، دا خلک، دا ځایونه او پیښې فقط لکه د خوب په شان یوازې زموږ په دماغ کې درک کیږي. موږ له خپل ځانه بهر نړۍ له اصلیت سره هیڅ تماس نه لرو..."
هغه چا چې د ماشـــومتوب راهیســـې د تنګلیدۍ او تعصـــب له کبله له حقیقته سترګې پټولې که دې موضوع ته په منطقي ډول ورنږدې شي دا ستر حقیقت به په ښــــه ډول درک کړي. دا موضوع په دې کتاب کې د یوه بحث په مرسته چې د ځلورو کســـانو تر منځ ترســـره کیږي څیړل شوې ده. په دې توګه دغه بحـــث هغه تعصب لرې کوي چې د درک مخنیوی یې کاوه او همدا راز هغه تیروتنې هم روښانه کوي چې خلک په کې پریوتلي دي.
کله چې ته دا کتاب لولې له دې خلکو ســـره به یو ځای ته هم له ځانه ســـره اســـتدلال کوې او له هغوی سره به یو ځای خپل ټول فکر پر دې ستر حقیقت راغونډوې. نو ته به د هغه چا برعکس په دې راز ښه پوه شې چې خپل ځان تیرباسي، غفلت کوي او له پوهیدو سره سره هره لحظه له دې حقیقته سترګې پټوي. باید هیر نه کړئ چې دا حقیقت هغه پوهه ده چې په مرســـته یې کولی شئ د الله شتون، د هغه ابدي قدرت او د قیامت نږدیوالی درک کړئ.

## د لیکوال په اړه



لیکوال چې د مستعار نوم هارون یحی په کارولو لیکنې کوي په ۱۹۵۶ کال په انقره کې زیږیدلی دی. ده د میمار سینان په پوهنتون کې ښکلي هنرونه او د استنبول په پوهنتون کې فلسفه لوستلې ده. له کال ۱۹۸۰ میلادي راهیسې د لیکوال ګڼ شمیر عقیدوي، ساینسي او سیاسي کتابونه چاپ شوي دي. هارون یحیٰ د یوه داسې لیکوال په توګه مشهور دی چې د تکامل د پلویانو د تیروتنو، د هغوی د ناسمو ادعاوو او د ډاروینیزم، فاشیزم او کمونیزم په څیر خونړیو ایډیالوجیو تر منځ د ناسیده اړیکو په اړه یې مهم کتابونه لیکلي دي. د هغه یو شمیر کتابونه په انګلیسي، فرانسوي، جرمني، هسپانوي، ایټالوي، پرتګالي، اردو، عربي، البانوي، چینایي، سواهلي، هازا، دیویهي یا د مریشیوس د خلکو ژبه، روسي، بوسنیایي (سرب-کروات)، پولندي، مالیزیایي، اویغوري، ترکي، اندونیزیایي، بنګالي، ډنمارکي، سویډني، فارسي او پښتو ته ژباړل شوي دي او په همدې هیوادونو کې چاپ ته رسیدلي دي. هارون یحی کتابونه له ټولو خلکو، که مسلمان دي او که نامسلمان، د هر عمر، توکم او ملیت پورې چې اړه لري لیکل شوي دي او په یوه هدف راغونډ دي: د الله د ابدي شتون د ښو نښانو او دلایلو په وړاندې کولو سره د هغوی د مغز خلاصول دي.


د حقیقت
پلټنه
هارون یحی-عدنان اقطار

## د ليکوال په اړه

عدنـــان اقطار چې د هارون يحيیٰ په قلمي نوم ليکنې کوي، په ۱۹۵۶ کال په انقره کې زيږېدلی دی. له کال ۱۹۸۰ ميلادي راهيسې د ليکوال ګڼ شمير عقيدوي، ساينسي او سياسي کتابونه چاپ شوي دي. هارون يحيیٰ د يوه داسې ليکوال په توګه مشهور دی چې د تکامل د پلويانو د تيروتنو، د هغوی د ناسمو ادعاوو او د ډاروينيزم، فاشيزم او کمونيزم په څير خونړيو ايډيالوجيو تر منځ د ناسيده اړيکو په اړه يې مهم کتابونه ليکلي دي. د هغه ۳۰۰ اثره چې ۶۳ ژبو ته ژباړل شـــوي دي په نړيواله کچه پراخ لوستونکي لري. دا کليکسيون له ۵۵۰۰۰ پاڼو جوړ او ۴۰۰۰۰ انځورونه لري.

د هغه قلمي نوم د الله پاك د دوه نازولو نبيانو له نومونو جوړ دی چې يو حضرت هارون عليه السلام او بل حضرت يحيیٰ عليه السلام دی. چـــې دواړو الحاد پر ضد مبارزه کوله. پر پښـــتې د پيغمبر مهر يو داســـې سمبول دی چې د کتاب موادو پورې تړلی دی او د وروستي اســـماني کتاب، قرآن عزيز، او له وروستي پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نمايندګي کوي. د ليکوال موخه داده چې د قرآن او د سنت تر لارښـــونو لاندې د ملحدو ايډيالوجيو بنســـټيز عقايد او اصول ناسم په زبات کړي او د ده وينا د وروستۍ خبرې په توګه پاتې شي، مانا ټول هغه ګوت نيونې چې د دين په وړاندې راپورته شـــوي دي په بشپړه توګه يې غلې کړي. وروستی پيغمبر چې د لوړ حکمت او اخلاقي بشپړتياؤ خاوند و، دلته د ليکوال د هغه هوډ نښه ده چې دا وروستۍ خبره به وايي.

د ليکوال ټول کتابونه په يو هدف راغونډ دي: د قرآن د پيغام خپرول، د لوستونکو هڅول چې د ايمان پر بنسټيزه مسايلو لکه د الله شتون، يووالي او آخرت په اړه فکر وکړي؛ او د بې دينه نظامونو کمزوري بنسټونه او ګمراه کونکې ايډيالوجۍ را بربنډې کړي.د هارون يحيی آثـــار د نړۍ په کچه پراخ لوســـتونکي لري، له هنده تر امريکا، انګلستانه تر انډنيزيا، له پولنډه تر بوسنيا او له هســـپانيې تر برازيله لوستل کيږي. د هغه يو شمير کتابونه په انګليسي، فرانسوي، جرمني، هسپانوي، ايټالوي، پرتګالي، اردو، عربي، البانوي، چينايي، ســـواهلي، هازا، ديويهي يا د مريشيوس د خلکو ژبه، روسي، سرب-کروات (بوسنيايي)، پولندي، ماليزيايي، اويغوري، ترکي، اندونيزيايي، بنګالي، ډنمارکي، ســـويډني، فارســـي او پښتو ته ژباړل شـــوي دي چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې لوستونکي ترې ګټه پورته کوي.



دغه آثار چې نړيوال يې ارزښـــت ته قايل دي د ډېرو خلکو د ايمان او عقيدې په رغولو او بيرته راستنولو او همداراز يې له نورو سره د ايمان په پياوړي کولو کې مرسته کړې ده. په دې کتابونو کې پروت حکمت، له اخلاصه ډک او د لوســـتلو آســـانه طرز لوســـتونکي ته يو ښکاره احســـاس ورکوي چې هر ډول ســـړی چې دا کتابونه ولولي په مســـتقيم ډول اغيز پرې کوي. له نيوکې خوندي، دغه آثار په دې مشـــهور دي چې د چټکه اغيز او قطعي نتيجه رامنځته کوي او د هيـــڅ ډول انـــکار لپاره ځای نه پريږدي. هغه څوک چې دغه کتابونه ولولي او جدي فکر پرې وکړي بيا ممکنه نه ده چې نور د زړه له کومي له ماده واله فلسفې، الحاد، او يا د کومې بل ډول منحرفـــه مفکورې او فلســـفې ملاتړ وکړي. او که بيا دې کار تـــه دوام ورکړي دا به يو ډول له تعصبه ډک ټينګار وي ځکه چې دې کتابونو دا ډول ايډيالوجۍ له بنســـټه دروغ ثابتې کړې دي. د الحاد ټول معاصر حرکتونه اوس د ايډيالوجيک پلوه ماتې سره مخامخ شوي دي، شکر دی چې د هارون يحيی له خوا ليکل شوي دا کلکسينونه لرو.

په دې کې شـــک نشـــته چې د کتابو دا ټولې ځانګړنې د قرآن د حکمت او وضاحت پايله ده. خو ليکوال په خورا نرمۍ نيت لري چې خلکو لپاره د الله د سمې لارې د پلټلو يو وسيله وګرځي. د دې کتابونو په چاپ کې هيڅ ډول مادي ګټې په نظر کې نه دي نيول شـــوي. نو دې حقايقو ته په پام ســـره دغه کتابونه د زړه ســـترګې راپرانيزي او سمه لار ښيي چې څه ډول د الله بندګۍ ته نـــور هـــم ځان وقف کړي. هغـــه څوک چې نور خلـــک د دغو کتابونو مطالعـــې ته هڅوي يو ارزښتناکه خدمت وړاندې کوي.

په همدې حال کې به دا د وخت او انرژۍ ضايع کول وي چې سړی د هغو کتابونو لپاره تبليغات وکړي چې يو خو د خلکو په ذهنونو کې خرخشه رامنځته کوي او له بله پلوه سړی د ايډيالوجيک انحراف لورته بيايي او لکه چې له مخکنيو تجربو هم ثابته شوې ده د خلکو له ذهنونو د شک د لرې کولو لپاره دومره پياوړې او دقيقه اغيز نه لري. جوته ده چې هغو کتابونو لپاره چې د خلکو د ايمان د ژغورلو د نيک نيت په موخه نه بلکې ليکوال د ادبي ځواک د ښودلو لپاره ډيزاين شوي وي ناممکنه ده چې دومره لوړه اغيز رامنځته کړي. که څوک په دې اړه شک لري کولې شي په تياره د هارون يحيي د کتابونو يوازينی هدف وګوري چې د کفر ماته او د قرآن د اخلاقي ارزښتونو خپرول دي. د دې خدماتو برياليتوب او اغيزې د خلکو له نظرياتو ښې ځرګنديږي.

يو شي بايد په ذهن کې ونيسو: د روان ظلم، جګړو او د تيريو يوازيني لامل چې دومره خلک يې ګاللو ته اړ دي د کفر ايډيالوجيک تسلط دي. د دې حالت له منځه وړل يوازې د کفر د ايډيالوجيکې ماتې، د خلقت د معجزو او د قرآن د اخلاقو په خپرولو سره چې خلک پرې ژوند وکړای شي شونی دی. د ننۍ نړۍ حالت ته په پام سره، چې خلک د تاوتريخوالي، فساد او د جګړو ژورو کړليچونو ته کښته کوي، روښانه ده چې دا خدمت بايد په لا ډيره چټکۍ او مؤثريت ترسره شي. کنه دا به بيا ډير ناوخته وي.

دا به مبالغه نه وي چې ووايو د هارون يحی د کتابونو کليکسيون دا مخکښ رول خپل کړی دی. انشاءالله چې دا کتابونه به هغه اسباب وي چې په مرسته به يې په 21مه پيړۍ کې هغه سوله، عدالت او خوښي چې په قرآن کې يې وعده شوې ده ترلاسه شي.

# د کتاب لیکلړ

له مادې ور اخوا راز وحدت الوجود نه دی

زموږ نه بهر ماده شته خو موږ نه ورته رسیږو

د پیل خبرې

سریزه

لومړی ورځ

دویمه ورځ

درېیمه ورځ

پایله

# له مادي ور اخوا راز وحدت الوجود نه دی

يو شمير خلکو پرهغه موضوع نيوکه کړې ده چې د "مادي اصليت" په اړه ده. په داسې حال کې چې د دې موضوع په مفهوم ســم نه دي پوه شــوي، دا خلک دعوا کوي هغه څه چې له مادې وراخوا راز په توګه بيان شــوي دي د وحدت الوجود له ښــوونو سره ورته والی لري. مخکې له هر څه اجازه راکړئ چې ووايم د دې کتابونو ليکوال يو مؤمن دی چې د اهل سنت پر عقيده کلک ولاړ دی او د وحدت الوجود نظريې ملاتړ نه کوي.

خو بايد يادونه وکړم چې يو شــمير وتلو اسلامي علماؤ چې محی الدين ابن العربي هم په کې راځي د وحدت الوجود عقيدې پلوي کړې ده. دا هم سمه ده چې بې شميره اسلامي علماؤ چې پخــوا وختونو کې يـــې د وحدت الوجود مفهوم بيان کړی دی ځينې هغو موضوعاتو ته په پام ســـره يې کړی دی چې په دې کتاب کې يې موندلی شــئ. خو بيا هم بايد ووايو څه چې په دې کتاب کې راغلي دي وحدت الوجود ته ورته نه دي.

له هغو څخه چې د وحدت الوجود ملاتړي ول ځينې يې په غلطو نظرياتو کې راګير شوي او داسې دعوې يې کړې دي چې د قرآن او د اهل سنت د عقيدې پرخلاف دي. دوی د بېلګې په توګه د الله له خلقت څخه بيخي منکر شوي دي. خو له مادې وراخوا راز موضوع داسې دعوا نه کوي. دا موضوع بيانوي چې ټول شــيان د الله له خوا خلق شوي دي، د دې شيانو اصليت يوازې الله ويني او خلک يوازې د دې شيانو انځورونه چې په دماغ کې يې جوړيږي ويني.

غرونه، دښـــتې، ګلان، خلک، سيندونه لنډه داچې هرڅه موږ وينو او هر هغه څه چې الله يې په قرآن کې خبر راکوي او داچې ټول شـــيان يې له نشـــته پيدا کړي دي، بې له شکه يې پيدا کړي دي او ټول شته دي. خو خلک د خپلو حسي غړو په مرسته د دې شيانو اصليت نه شي ليدلی، اوريدلی او احساســولی. هغه څه چې دوی ويني، اوري او يا احساسوي، هغه کاپيانې دي چې د هغوی په دماغ کې راښکاري. دا يو داسې ساينسي حقيقت دی چې په ټولو ښوونځيو او طب کې ښــودل کيږي. د دې مقالې په برخه کې هم همدا خبره صدق کوي چې تاســـې يې اوس لولئ؛ تاسې د دې مقالې اصليت نه شئ ليدلی او نه يې لمس کولی شئ. هغه نور چې له اصلي مقالې نه راځي ستاســـې د سترګو ځينو حجراتو له خوا په بريښنايي سيګنالونو بدليږي چې بيا له دې وروسته ستاسې د دماغ په شاتنۍ برخه کې د باصرې مرکز ته ليږدول کيږي. دا هغه ځای دی چې د مقالې منظره په کې راښـــکاري. په بله وينا، د ستاسې په مخکې کومه مقاله نشته او نه يې پخپلو سترګو لولئ؛ اصلاً، دا مقاله د باصرې په مرکز کې چې ستاسې د دماغ په شاتنۍ برخه کې پروت دی جوړيږي. هغه مقاله چې ته دا اوس لولې، د اصلي مقالې يوه کاپي ده چې ستا په دماغ کې جوړه شوې ده. اصلي مقاله يوازې الله ليدلی شي.

په پای کې بايد ووايم، دا حقيقت چې ماده يو خيال يا تصور دی چې په دماغ کې جوړيږي له مادې انکار نه کوي خو موږ ته د مادې د اصلي طبيعيت په اړه معلومات راکوي: او هغه دا چې هيڅ څوک د مادې له اصليت سره تماس نه لري.

# زموږ نه بهر ماده شته خو موږ نه ورته رسيږو

دا خبره چې ماده يو خيال دی په دې مانا نه ده چې ماده له ســـره شتون نه لري. بلکې برعکس: که موږ دا فزيکي نړۍ احساســـؤ اروـــرو وجود لري. خو موږ يې د يوې کاپي او يا زموږ د حواسو د يوه تعبير په توګه په دماغ کې وينو. نو له دې کبله زموږ لپاره دغه فزيکي نړۍ د يوه خيال حيثيت لري.

د مـــادې بهرنی وجود يوازې موږ نه بلکې نور موجودات يې هم ويني. هغه ملائيکې چې الله پاک د څارونکو په توګه ټاکلي دي هم دا نړۍ ويني:
**د هغه په ښـــي او کين اړخ کې دوه ناستې ملايکې د هغه هر څه را اخلي. هيڅ خبره يې له خولې وتلې نه وي مګر څار کونکي حاضر او تيار وي.** (سورة ق: ۱۷-۱۸)

له دې هم مهمه دا ده چې الله هر څه ويني. الله دا نړۍ له ټولو جزياتو ســـره پيدا کړې ده او په هر حالت کې يې ويني. لکه چې الله په قرآن کې موږ ته خبر راکوي:
**...او له الله څخه وډار شئ او پوه شئ چې الله پاک ستاسې ټولې کړنې ويني.** (سورة البقرة: ۹۶)

**او ووايه چې زموږ او ستاسي په مينځ کې الله د شاهد په توګه بس دی. هغه له خپلو بنده ګانو ښه خبر دی او هر څه يې ويني.** (سورة الاسراء: ۹۶)

دا بايد هير نه کړو چې الله د هر څه ريکارډ په يوه کتاب کې ســـاتي چې لوح محفوظ نوميږي. ان که موږ يو څه نه وينو هم خو په لوح محفوظ کې شـــته. الله په لاندې آيت کـــې فرمايي چې هغه هر څه د ريکارډ پـــه توګه په "ام الکتاب" کې چې لوح محفوظ نوميږي ساتي:
**په لوح محفوظ کې ثبت او زموږ په وړاندې د لوړې مرتبې خاوند او له حکمتونو نه ډک دی.** (سورة الزخرف: ۴)

**...او له موږ سره يو ساتونکی کتاب دی.** (سورة ق: ۴)

**د آســـمانونو او ځمکې هيڅ پټه خبره نشـــته مګر په يوه څرګند کتاب کې کښل شوې ده.** (سورة النمل: ۷۵)

# د پیل خبرې

له مادې ور اخوا راز موضوع چې موږ په ځینو کتابونو کې په تفصیل ســـره څېړلې ده د ګڼو لوســـتونکو پام يې ځانته راکاږلې او هغوی ته يې د دې فرصت برابر کړی دی چې له یو داسې حقیقته خبر شي چې هیڅکله یې په ژوند کې نه دی لیدلی. دا کومه نوې فلســـفه او یا ایډیالوجي نه ده؛ دا حقیقت په هر سړي کې شته، که هغه يې مني او که نه، خو دا یو داسې حقیقت دی چې هر یو يې تجربه کوي؛ د دې حقیقت درک کول ډیر اســـانه دی او د ســـاینس بیلابیلو څانګو دا حقیقت ډیر کلونه پخوا ثابت کړی و او موږ يې په دې ډول خلاصه کؤ: هغه ماده چې الله پیدا کړې ده بهر شـــته دی خو موږ د دې مادې يوازې يوه کاپي په ذهن کې تجربه کؤ. موږ د مادې د اصلیت په اړه چې زموږ له دماغه بهر ده هېڅ پوهه نه لرو.

تـــول هغه څه چې زمـــوږ ژوند جوړوي د ادراکاتو یوه ټولګه ده چې زموږ د روح له خوا احســـاس کیږي. دا شیان، خلک، ځایونه او پیښې چې زموږ ژوند او نړۍ ته مانا ورکـــوي د یـــوه خوب په څېر دي؛ موږ هغه ټول په دماغ کې درک کؤ او موږ د هغو له اصلیت او حقیقت سره هیڅ تماس نه لرو. که دا موضوع یو داسې چا ته تشریح شي چې په يو خلاص مغز او پرته له تعصبه پرې فکر وکړي، په ډیره آسانۍ او خورا لږ وخت کې دا ستر حقیقت درکولی او د خپل ژوند برخه يې ګرځولی شي.

خو ځینې خلک به کیدی شی د هغو فکري عاداتو او تعصبونو تر اغیز لاندې وي چې یا خو د ماشـــومتوب له مهاله د یوې عقیدې په توګه ورښـــوول شوي وي او یا د هغو منفي نظریاتو پایله ده چې له خپل چاپیریاله يې اخیستي دي. دې مسئلې ته په پام سره موږ دا کتاب د یو ډول بحث په بڼه چې درې پوښـــتونکي بیلابیلې پوښـــتنې کوي تیار کـــړی دی. هغـــه برخې چې د دې بحث ګـــډون کونکو لپاره د درک یـــا منلو له پلوه ستونزمنې دي په ورځني ژوند کې د پیښو شویو ژوندیو مثالونو په مرسته مو روښانه کړي دي. دا ډول به لوســـتونکو ته فرصت ورکړي چې په نویو زده کړیو شیانو فکر وکړي او هغه په کور، کارځای، ښوونځي، د تلویزیون په مخکې او لنډه دا چې د ژوند په هر اړخ کې عملي کړي.

دا کتـــاب د بحـــث پـــه اوږدو کې ځینې داســـې نظریات ارزوي چې شـــاید د هر یوه پوښـــتونکي په ذهن کې به تاویږي، همداراز کتاب دا هم څیړي چې الله د هر انســـان روح ته د ادراکاتو یوه ټولګه وراچوي او دا ادراکات په دماغ کې د خوب لیدلو په څیر احساســـیږي؛ دا نړۍ چې له اصلیت سره يې موږ هیڅکله مستقیم تماس نشو لرلی، د یو هدف لپاره رامنځته شـــوې ده او بالاخره هغو پوښتنو ته هم ځوابونه برابروي چې

له دې نظرياتو راپورته کيږي.

د هغو کســـانو تر څنګ چې په آزادانه ډول او پرته له تعصبه يې دا حقيقت منلی دی، داسې کسان هم شته چې که څه هم په دې حقيقت پوهيدلي دي خو نه غواړي چې وې مني او يا له هغه مســـئوليته تيښـــته کوي چې د دې حقيقت د منلو په پايله کې ورسره مخامخ کيږي. که هغه څوک چې دا ډول نيمګړی نظر لري دا کتاب ولولي ډير ښه به پوه شـــي چې دا څومره لوی ذلت دی چې يو باشـــعوره سړی له حقيقته په تېښتيدو سره يو دروغجن او خيالي ژوند تيروي.

بايد هيره نه کړو چې حقيقت له هر څه ښـــه دی؛ له دې کبله دا هيڅ ګټه نه لري چې ســـړی له حقيقته وويريږی او يا ترې تيښـــته وکړي. د هوساينې او رضايته ډک د يوه نوي ژوند پيل په خلاص مغز او له تعصبه پرته فکرونو ته اړتيا لري. که خلک د ځان د تيرايســـتلو او يا خيال پسې د روانيدو پر ځای د حقيقت د درک او پوهيدو لپاره هڅه وکړي، هغوی به د يوې حقيقي او تلپاتې خوښۍ ښکلا احساس کړي.

# خبرتیا

هغه موضوع چې اوس ته په دې کتاب کې لولې ستا د ژوند یو ډېر مهم راز راسپړي. ته باید دا کتاب په پوره پام او بشپړ ولولې، ځکه چې په دې کې یوه داسې موضوع څېړل شوې ده چې ارومرو به د نړۍ د بهرني وجود په اړه ستا نظر له بنسټه بدلوي. د دې کتاب موضوع مازې یو نظر، یو بل ډول میتود او یا کومه دودیزه فلسفي مفکوره نه ده: دا یو داسې حقیقت دی چې نن ورځ یې هریو، که هغه مسلمان او یا غیر مسلمان دی باید ومني او دا موضوع نني ساینس هم ثابته کړې ده.

# سریزه

د مادي حقیقت کومه نوې موندل شــوې موضوع نه ده بلکې له ډېر پخوا څخه پیژندل شوې ده. دې موضوع ته د پاک قرآن په یو لړ آیاتونو کې اشاره شوې او یو مهم راز دی چې د یو شـــمیر نورو آیاتونو په تعبیر کې مرسته کوي. د تاریخ په اوږدو کې الله پاک خپل رسولان، مخلص مؤمنان او د ژور فکر خاوندان رالیږلي دي چې دا حقیقت یې خلکو ته څرګند کړی دی.

هغه آیاتونه چې د دوی لارښونې په کې دي موږ ته رارسیدلي دي. د حقیقی دینونونو یو شـــمیر بدلې شـــوې بڼې چې اصلی کتابونه یې تحریف شوي دي غوښتل یې چې دا حقیقت د یو روحاني راز په توګه وســـاتي. له دې کبله، کولی شو دغه حقیقت په هغو متونو کې چې په زردشـــت، بودیزم، توئسم، یهودیت او نصرانیت کې دي پیدا کړو. د لرغوني یونان یو شـــمیر فیلسوفانو لکه فیثاغورث Pythagoras، د العاتیک فلسفی مکتب، افلاطون (په تیره بیا د هغه په Allegory of the Cave د غار کیســـه) او یو شـــمیر نور مفکرین چې له هغوی وروســـته تیر شـــوي دي ټولو تر یوځایه د دې پوښـــتنې ځینې اړخونه روښانه کړي دي. وروسته بیا، دا په هغه چا پورې وتړل شوه او د هغوی د ښوونې یوه برخه وګرځیدله چې د بیلابیلو نظریاتو او تعبیرونو تر اغیز له راتلو سره یې پر دې موضوع په ازاد ډول فکر وکړ او دې حقیقت ته راورسیدل.
هغه چاچې ماده پرستي او یا هغه فلسفه چې وایي ماده د شتون یوازینۍ مطلقه مبدأ ده، خپلـــه عقیـــده ټاکلې وه زیاته هڅه یـــې وکړه چې دا حقیقت پټ وســـاتي. خو ایرلنډي تیولوجست او فیلسوف برکیلي Berkeley په ۱۸ مه پیړۍ کې یو ځل بیا دغه پوښتنه راپورتـــه کړه چې په دې کار ســـره یـــې د نظریاتو نړۍ ته بل رنـــګ ورکړ. له دې وروســـته ډاروین د ارتقا یا تکامل نظریه وړاندې کـــړه، ماده والو په تیره بیا برټراند روســـل Bertrand Russel چې د دې مکتب ویاند و وغوښتل چې پر برکیلی تور ولګوي او ســـپک یې کړي، ځکه چې هغوی نه شـــو کولی هغه ته یو فلســـفي جواب ورکړي. خو روســـل له دې ســـره سره چې په توکیزواله کړیو کې یو وتلی مفکر او د دې نظریې خورا پیاوړی ملاتړی و، وې نه شو کولی له دې حقیقته سترګې پټې کړي. هغه پخپل کتاب "د فسلفې ستونزې" کې دغه حالات داسې ارزولي دي.
... د برکیلي وړتیا د ســـتایلو ده...چې وایي که داســـې شیان وي چې له موږه مستقل وجود ولري نو دا شیان زموږ د حواسو مستقیم عوامل نه شي کیدی.


روســـل که هر څومره پر مخالفت لاس پورې کړي په پورتنۍ وینا کې له دې حقیقته انکار نه شي کولی، بلکې ان په ډاګه وایي چې دا حقیقت یې منلی دی.

اوس چې موږ پښنه په یوویشتمې پیړۍ کې ایښې ده د ساینس د بیلابیلو څانګو پرمختګونو لکه عصري فزیک، کوانتم فزیک، ستورپوهنې، اروا‌پوهنې او اناتومۍ دغه کړۍ دړې وړې کړې چې د نړۍ د زړې مټریالیستي نظریې ننګه یې کوله. د فسیلونو څیړنې او د جنیتیک د علم پلټنو د تکامل نظریه راوپرځوله؛ په رڼاپوهنې ساینس او اروا‌پوهنې څانګو کې ترسره شوو څیړنو د ادراک د قوې رازونه راوسپړل؛ په پایله کې فضای څیړنو د بیګ بانګ تیوری (چې وایي کائنات او ماده پیل لري) وړاندې کړه؛ پر اتوم او اتوم لاندې بڅرکو تر سره شویو پلټنو کلاسیک فزیک په بشپړه توګه بدل کړ او د نسبیت تیوري یې په زبات کړه – هغه تیوري چې وایي وخت نسبي دی.
د ساینسي نړۍ پرمختګ چې په بې شمیره ځلې یې د الله شتون او د هغه تلپاتي واکمني پر ټولو کائناتو تصدیق کړې ده مټریالیستي مفکرین یې بې دلیله پرېښودل چې د تعصب او توپیر ممثلین ول. د هغوی دا بیولوژي اوس هم روانه ده. موږ د تلویزیون پر پرده، په ښونځیو او د لکچر پر مهال له یو شمیر ساینسپوهانو او مفکرینو سره مخامخ کیږو، کله چې دې حقیقت ته راورسیږي چې موږ نه شو کولی له دماغه بهر چاپیریال لمس کړو او دا چې زموږ ژوند یوازې له هغو ادراکات جوړ دی چې موږ یې پخپل مغز کې احساسوو، له حقیقته سترګې پټوي او پرته له دې چې نور خلک هم له دې حقیقته خبر کړي ځان تیروي او ان په داسې چارو لاس پورې کوي چې حقیقي نه دي.
خو، د حقیقت پټول د حل لار نه ده. له دې کبله دا کتاب پر دې تاکید کوي چې له حقیقته ویره او له هغه څخه تیښته څومره بې ګټې کار دی. دا کتاب به تاسې ته دا هم روښانه کړي چې د حقیقت پټول او له حقیقته تیښته یو سړي ته څومره زیان رسوي او همداراز، دا کتاب د هغو خلکو معنوي حالت هم بیانوي چې په دې لار روان دي.
له مادي وراخوا پر پټو رازونو پوهیدل به له تاسې سره د خدای، د هغه ځانګړنې، تقدیر، روح، جنت، دوزخ، تلپاتیوالي او د زمان نشتوالي په څیر مفاهیمو په ربښتیني پوهاوي کې مرسته وکړي. د دې حقایقو په مرسته به لوستونکي په ربښتیني مانا د ځینو عامو ورځنیو پوښتنو ځوابونه لکه دا چې "خدای چیرته دی؟، "تقدیر څه شی دی؟" له مرګه وروسته به څه پیښیږي؟"، او یو لړ نور ځوابونه هم پیدا کړي چې پوښتنې ورته لري.
اوس راځئ چې هغه کسان تاسې ته در وپیژنم چې د دې مهم هدف لپاره یې د دې کتاب په محاوره کې برخه اخیستې ده.
دغه ناسته د متقابلو ویناؤ په فضا کې ترسره شوې او هغو لوستونکو چې په دې ناسته کې ګډون کړی له بیلابیلو کړیو سره تړاؤ لري. د لومړني ګډونوال نوم عایشه دی؛ هغه تر اوسه د پوهنتون محصله ده او د کمپیوټر انجنیرینګ په څانګه کې زده کړې

کوي. څرنګه چې عایشه په دې موضوع کې ډېره دلچسپي لري، هغه پوهیږي هر هغه څه سره چې دا متقابل عمل کوي هغه یوازې د هغې په دماغ کې جوړ شوی برداشت یا تصویر دی. خو نوموړې غواړي چې د دې تصویرونو یا خیالونو د سرچینې په اړه خپله پوهه زیاته کړي او په دې اړه تر ټولو قانع کوونکې دلایل او تشریح زده کړي.
د دویم لوستونکي نوم احمد دی. هغه یو صنعت پوه دی چې یوې مشهورې کورنۍ پورې اړه لري. احمد په دې پوهیږي چې هغه پخپل چاپیریال کې د شیانو اصلیت په مستقیم ډول هیڅکله نه شي لمس کولی او د مرګ وروسته به د دې نړۍ هر څه لکه د خوب خپل پای ته ورسیږي. خو هغه غواړي هغو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړي چې خپله یې د ځوابولو جوګه نه دی.
ابراهیم زموږ دریم لوستونکی دی. ده خپله دکتورا په بیولوژي کې له یوه بهرني پوهنتونه اخیستې ده او اوس یې د مرستیال په توګه په یوه پوهنتون کې کار پیل کړی دی. ابراهیم د دې موضوع په اړه له خپل یو ملګري اوریدلي و؛ هغه بیا یو څه کتابونه هم ولوستل خو څرنګه چې په بشپړه توګه یې سر پرې نه دی خلاص شوی نو یو څو پوښتنې په ذهن کې لري. دا موضوع له ساینسي پلوه هغه ته ډېره په زړه پورې ده.
مراد چې به د لوستونکو پوښتنو ته ځوابونه وایي کلونه پخوا یې دا موضوع د هارون یحیی په کتابونو کې زده کړې وه او له دې امله ژور معلومات په کې لري.

# لومړی ورځ








موږ له باصرې یا لیدلو سره ښه آشنا یو چې د انځورونو یوه لړۍ را اخلي او له هغو درک کوي چې داسې ستونزې شته چې باید اوارې شي. موږ ته په سترګو کې کوچني سرچپه تت انځورونه راکول کېږي. او موږ په چاپیریال کې بیلابیل بشپړ اجسام وینو. پر ریټینا د سیمولشن له یوې نمونې څخه موږ د اجسامو نړۍ درک کوو، او دا کار له یوې معجزې څخه کم نه دی.

آر. ایل. ګریګوري

دغه مهم بحث د اونۍ د پاي په رخصت کې له ښاره بهر په یوه بانډه کې ترسره شوی دی.

مراد: د ستاسې د لیکونو تر لوستلو وروسته ماته بریښي تاسې ټول زه پیژنم او موږ ډېر زاړه ملګري یو او د اوږده بیلتون وروسته بیا سره یو ځای شوي یو ستاسې پوښتنې ډېرې په ځاي دي. اصلاً، که موږ خپلې خبرې روانې وساتو او نظریات سره تبادله کړو نو تاسې به خپل ځوابونه له اټکل څخه هم ډېر په سادګۍ او دقیقه توګه ترلاسه کړئ. د یو څو تخنیکي مسایلو د روښانولو لپاره ما یو څه انځورونه او ډیاګرامونه هم له ځانه سره راوړي دي. اوس لومړۍ پوښتنه څوک کوي؟

ابراهیم: لومړی به زه خپله پوښتنه وړاندې کړم ځکه چې زه په دې موضوع کې دومره معلومات نه لرم. ما داسې کتابونه لوستلي دي چې وایي زموږ ژوند یوازې له انځورنو څخه جوړ دی او موږ هیڅکله نه شو کولی چې د دې انځورونو له اصلیت سره چې زموږ له دماغه بهر نړۍ کې دي په تماس کې شو. دا خبره رښتیا ده؟

مراد: هو، دا رښتیا دي.


ابراهیم: اوس زه غواړم وپوهیږم چې دا تصویرونه څه دي.


مراد: ابراهیمه ته خو په بیالوژۍ کې تخصص لرې؟

ابراهیم: هو، ستا خبره سمه ده.

مراد: د دې لپاره چې پر موضوع مو ښه سر خلاص شي اړینه ده چې پوه شو زموږ پینځه ګوني حواس څنګه فعالیت کوي. موږ ټولو ته د لیسې د وخت بیولوژي په یاد ده خو ابراهیمه څرنګه چې ته په دغه علم کې تر موږ مخکې یې که له باصرې حس څخه موږ ته پیل وکړې او ووایې چې دا پینځه ګوني حواس څنګه کار کوي؟


ابراهیم: له تخنیکي پلوه حسي غړي د هغو پیچلو سیستمونو یوه برخه ده چې روښانه کول یې ساعتونه بر ته نیسي. هر غړی خپل خپل هیښنده سیستم لري. یوازې پردې خبره چې غوږ څرنګه اوریدل کوي، په ټوکونو کتابونه لیکل شوي. خو کیدی شي چې لږ تر لږه دغه پیچلي سیستمونه په یو څو خبرو کې را لنډ کړو.






پــه دې کتاب کې به موږ هغه حقیقــت وڅېړو چې په ټول عمر کې زموږ ملګرى دى خو کیدی شي چې هیڅ فکر مو پرې نه وي کړى. خــو مخکې له دې چې پر دې حقیقت خپل بحث پیل کړو، په دې اړه فکر وکړئ: په پورتني انځور کې خلک په یوه ځاى کې ناســت دي خــو له خپل چاپیریاله بیل بیل برداشــتونه لري. لکه چې تاســې په کوچنیــو انځورونو کې وینئ، هر ســړى خپــل چاپیریال له مختلفې زاویې ګوري.

یو بهرنی محرک مانا هغه بهرنۍ اغیز چې زموږ د عصبی رشتو څوکې تحریکوي لکه نور، غږ، مزه، بوی او کلکوالی، زموږ حواسي غړو ته رسیږي – چې سترګې، غوږونه، ژبه، پزه او پوستکی (د بدن په هره برخه کې) دي. نو لومړی پړاؤ یې داسې پیلیږی: د عصبی رشتو څوکې تحرک را اخلی او په برقی سیالو یا سیګنالونو یې بدلوي چې بیا دغه سیګنالونه د عصبي رشتو له لارې لیږدول کیږي. په دویمه مرحله کې دغه برقی سیګنالونه په اعصابو کې پرتو اړوندو مرکزونو لکه د لیدلو، اوریدلو، بوی او خوند مرکزونو ته راوړل کیږي. او په وروستۍ مرحله کې دماغ دغه سیګنالونه درک کوي او د اړتیا وړ ځواب ورکوي.



که څه هم د اوریدلو پروسه په لومړي نظر ډیره ساده ښکاري، خو لکه چې په ډیاګرام کې لیدل کیږي دا پروسه ډیره پیچلې ده. غږیزې څپې پر غوږ لګیږي او له یو لړ بیلابیلو مرحلو تر تیریدلو وروسته پر برقي سیګنالونو بدلیږي چې بیا د عصبي تارونو له لارې دماغ ته رسیږي. غږ بیا د دماغ په سامعې مرکز کې درک کیږي. دماغ اصلاً له غږه بلکل جلا دی او له بهره هیڅ غږ نشي وررسیدلی؛ مانا هغه څه چې موږ د سامعې مرکز په نامه یادؤ له چپې چپتیا نه ډک دی. خو، په دې چوپتیا کې موږ ټول بهرني غږونه او هره محاوره چې زموږ چاپیره ترسره کیږي اورو. دا یو هیښنده راز دی.





د نور هغه وړانګې چې له بېرې راځي پر سترګو لګېږي او په برقي سيګنالونو بدلېږي چې بيا د ګڼو پروسو تر تېرېدلو وروسته دماغ ته رسېږي. د بېړۍ انځور په دماغ کې جوړېږي.

مراد: ډېر ښه ابراهيمه. هو، سيسټم په همدې ډول کار کوي خو کله چې د ادراک مرحله راورسېږي مانا هغه مرحله چې موږ پوهېږو چې څه شی حس کړ، دا سيسټم نور هم پېچلی کېږي. د بېلګې په توګه موږ دلته ناست يو او د اوبو ډنډ ته ګورو. حسي سيګنالونه د دې ډنډ او د هغه چاپېريال برداشتونه جوړوي... د ډنډ د چاپېريال برداشت لکه د ګلانو بوی، د مارغانو سندرې، د ميز جوړښت او بې شميره نور توکي چې د



د بوی حس هم په همدې ډول درک کېږي. هغه محرک چې له يوه جسمه او يا هم له کومې ميوې راځي په برقي سيګنالونو بدلېږي او وروسته له دې چې له يو لړ پروسو څخه تير شي دماغ ته رسېږي او د بوی يا شامې مرکز کې درک کېږي.



هغه سړی چې فکر کوي له ملګرو سره ناست او له هغوی سره چیرته بهر په یوه رانه میدان کې بنډار کوي داسې دی لکه چې دا ټول د سینما پر پردې ګوري. له هغه سره ناست ملګري او د چاپیریال پراخه منظره، هغه انځورونه دي چې د هغه د دماغ په باصرې مرکز کې جوړیږي. دی له خپل دماغه بهر له کوم شي سره مستقیم تماس نه لري.

انځورولو وړ دي ټول په یو وار سره راځي. بیا دغه برداشتونه له هغو معلوماتو سره پرتلـــه کیږي چـــې زموږ په حافظه کې دي او د دماغ اړونـــده مرکز زموږ چاپیریال احساســـوي. ښــــه، اوس ته ابراهیمه موږ ته ویلی شې کله چې دې ونې ته ګورو کومه عملیه ترسره کیږي؟

ابراهیم: دا ډېره ســـاده ده. د ونې اړوند معلومات، مانا د هغې رنګ، واټن او بعدونه د نور په مرســـته ســـترګو ته رســـیږي. د ســـترګې په دننه کې دا معلومات په برقي ســـیګنالونو بدلیږي او عصبی رشـــتو ته ورکـــول کیږي او بیا عصبي رشـــتې دغه معلومات په دماغ کې د باصرې مرکز ته انتقالوي. دغه ســـیګنالونه د لیدلو مرکز ته رسیږی او اعصاب یې د ونې په بڼه درک کوي.



کله چې په یوه باغ کې ناست یې، خپل چاپیره وګوره؛ ونې، واښه، په آسمان کې لمر، هغه چوکۍ چې ته پر ناست یې، هغه میز چې تا خپل لاس پر ایښی دی او هغه ګیلاس چې ته ګوتې ور وړې...دا ټول هغه جسمونه دي چې ته یې د حسي غړو په مرسته پیژنې او د دماغ له خوا د برقي سیګنالونو په تعبیر سره یې درک کوې.



مراد: آیا هغه ونه چې ته يې وينې، هلته ولاړه ده او که د ستا د دماغ د باصرې په مرکز کې ده؟

ابراهيم: يقينا، دا زما د دماغ د باصرې په مرکز کې ده.

احمد: يوه شيبه. ښه، د ونې انځور به زما په دماغ کې وي خو ونه هغه ده هلته ولاړه ده! زه تلای شم او له هغې ميوه هم را شکولی شم او يا اړخ پرې لګوم او سيوري ته يې کښينم.

مراد: تلوار به نه کوو، راځئ چې دې موضوع ته په وار سره کتنه وکړو. د يوې لحظې لپاره پر هغو ځانګړنو فکر وکړئ چې له ونې يې ونه جوړه کړې ده- د دې رنګونه، ځانګې او پاڼې – ټول زموږ د دماغ په باصرې مرکز کې درک کيږي. کله چې موږ يوې ونې ته لاس وروړو او يا ميوه ترې را اخلو موږ يو لړ برداشتونه لکه ليدل، غږ، مزه، بوی او لمس مشاهده کوو چې زموږ له پنځو واړو حسي غړو له خوا راليږل کيږي. موږ له خپل ادراک څخه بهر بل هيڅ شي سره تماس نه لرو. د باصرې حس پرته موږ هيڅ څه نه شو ليدلی؛ که موږ د سامعې حس ونه لرو اوريدل نه شو کولی. په حقيقت کې، هغه څه چې موږ په دماغ کې د حسي غړو له لارې حس کوو زموږ د ژوند زياتره برخه جوړوي.

احمد: سمه ده دا مې ومنله. خو ګورئ. زه لاس اوږدوم او يوه ټوټه کيک را اخلم په مزه يې خورم. کله چې مې کيک وخوړ ماته انرژي راکوي. آيا دا به سمه وي چې ووايم زه د دې کيک له اصليت سره هيڅ تړاؤ نه لرم. آيا موږ پرته له دې چې  له اصليت سره يې په تماس کې يو د يو څه مزه څکلی شو؟

مراد: اصلاً، دا پوښتنه مخکې د ونې په بيلګه کې ځواب شوه. کيک، ونه او ميز د ستا د دماغ د ادراک په مرکز کې دي. خو غم مه کوه! موږ وروسته داسې نورې بيلګې راوړو چې دا خبره روښانه کړي! خو که خبره راونغاړو؛ وايم چې موږ په ټول عمر کې له هغه کيکه خوند اخلو چې په دماغ کې يې خورو او هغه انرژي ترې اخلو چې زموږ بدن يې له دې کيکه په دماغ کې اخلي. همداراز، له هغې ونې چې زموږ په دماغ کې ده هغه ميوه را شکوو چې زموږ په دماغ کې ده. موږ د يوې ونې د سيوري لاندې ساړه احساسؤ چې زموږ په دماغ کې ده. هغه معلومات چې موږ د دې نړۍ په اړه لرو له هغو سيګنالونو جوړ دي چې زموږ حسي غړي يې موږ ته راليږي. موږ يوازې هغه معلومات ترلاسه کؤ چې د سيګنالونو له لارې دماغ ته راځي، موږ دې ډول پوښتنو ته لکه "د دې شيانو اصليت څه دی؟"، او يا آيا د دې شيانو اصليت او هغسې چې موږ يې درک کوو دقيقا يو ډول دي"؟ هيڅ ځواب نه شو ويلای. موږ نه شو کولی له خپلو حواسو اخوا يا بهر لاړ شو مانا موږ په پنځو حواسو کې بند يو. وګورئ چې مشهور فيلسوف برټرانډ روسل Bertrand Russell په خپل کتاب "د فسلفې ستونزې" کې پر هغو حالاتو ټينګار کوي چې د دې ستونزې ته د اوارې له پيدا کولو رامنځته شوي دي.

مخکې لدې چې وړاندې لاړ شو دا به ښه وي چې و ارزو موږ تر اوسه څه په زبات کړل. داسې ښکاري چې، که موږ یو داسې عام جسم را واخلو چې فرض کړو زموږ حواس ورسره آشنا دي، اوس هغه څه چې موږ ته زموږ حواس ځاى پر ځاى راښيي د دې جسم اصليت نه دى ځکه چې هغه جسم زموږ نه جدا دى، بلکه دا یوازې هغه حقایق دي چې زموږ حواس یې معلومات موږ ته راکوي او تر هغه وخت پورې چې موږ ورته ګورو د زموږ او د جسم تر منځ رابطې پورې تړاؤ لري. نو هغه څه چې موږ مستقیما وینو او یا یې احساسؤ یوازې "ځرګندیدل" دي چې موږ باور لرو دا د هغو حقایقو یوه نښه ده چې د دې ځرګندیدلو تر شا پراته دي. خو که د لیدل شویو او یا احساس شویو شیانو اصلیت هغسی نه وي چې موږ یې وینو آیا داسې اسباب لرو چې موږ ته معلومه کړي چې آیا دوی رښتیا هم خارجی وجود یا حقیقت لري؟ او که داسې وي آیا داسې اسباب لرو چې معلومه کړي د هغوی اصليت څه دی مانا هغوی اصلا څنګه ښکاري یا احساسیږي؟


عایشه: زه به یوه بیلګه درکړم. زه د کمپیوتر په ځانګه کې زده کړې کوم نو دا موضوع ماته یو څه آشنا ښکاري او ماته ډېره په زړه پورې هم ده. په هغو هیوادونو کې چې ټیکنالوجۍ ډېر زیات پرمختګ کړی دی د لوبو او زده کړې لپاره زیاتې رسنۍ جوړې شوي دي. او تاسې خو پوهیږئ چې د دې کارونو زیاتره برخه د کمپیوټر پروګرامونو په مرسته جوړیږي. دغه پروګرامونه کولی شي په دماغ کې درې-بعدي انځورونه جوړ کړي. نن ورځ د دغو کمپیوټري لوبو د جوړولو بنسټيز هدف، د پنځه ګونو حواسو د تحرک له لارې حقیقي ژوند په خیالي ډول په مصنوعي توګه ښودل دي چې دا کار د ماشومانو لپاره ډېر په زړه پورې دی. د ناسا ادارې NASA له فضانوردانو نیولې بیا تر مهندسانو او انجنیرانو پورې ټول په ځینې تخصصي برخو کې د درې-بعدي انځورونو د ننداري له لارې چې د سیمولیشن Simu-lation په نامه یادیږی روزل کیږي. د الوتنې د کمپیوټري روزنې پر مهال پیلوټ د حقیقي الوتنې او د کمپیوټر په مرسته جوړې شوې مصنوعي الوتنې تر منځ توپیر نه شي کولی او یو ډول ورته ښکاري. د زیاترو لویو ساینسي فیلمونو موضوع چې موږ یې وینو همدا ده چې د انسان ژوند په دماغ کې د جوړو شویو ادراکاتو او یا خیالي نړۍ څخه جوړ شوی دی.

ابراهیم: عایشه رښتیا وایي. د ساینس نړۍ بل ډول نه ده. لس کاله مخکې چا د دې موضوع په اړه فکر هم نه شو کولی. خو اوس دا د بحث یوه توده موضوع ده. په دې برخه کې دومره ډېر کار شوی دی چې د کمپیوټر په مرسته د برقي سیګنالونو څخه جوړه شوې مصنوعي نړۍ رامنځته کول ورځ په ورځ اسانه او ساده کیږي او په دې توګه یو انسان کولی شي چې د دې سیګنالونو په مرسته د خپلې خوښې یوه خیالي نړۍ ځان لپاره جوړه کړي. د فزیک، اتوم او بیولوژیکو پلټنو یوه لویه برخه د همدې ټیکنالوجۍ په مرسته تنظمیږي.


مراد: ته رښتیا وایې! د ټیکنالوجۍ پرمختګ داسې نوې بیلګې تولید کړي دي چې له خلکو سره به د دې موضوع په چټک درک کې مرسته وکړي.



د یوه سـیمولیټر کارول په بشـپړه توګه موږ باوري کولی شي چې موږ یوه الوتکه چلوو په داسې حال کې چې موږ به دا کار نه کوو. او یا به موږ فکر کوو چې یو موټر چلوو او یا په پښو تګ کوو. زموږ پینځه ګوني حواس د دې لامل ګرځي چې موږ دا شیان تجربه کړو، خو اصلاً موږ نه موټر او نه الوتکه چلوو؛ موږ په یوه کوچنۍ بنده خونه کې ناست یو.









د سیمولیټر پرمختللې ټیکنالوجۍ ته په پام سره ممکنه ده چې یو سړی داسې فکر وکړي چې پر یوه لویه لاره موټر چلوي په داسې حال کې چې دی به په یوه کوچنۍ بنده خونه کې ناست وي. ځکه هغه سیګنالونه چې له دې کمپیوټره دماغ ته لیږل کیږي، دې سړي ته دا ډاډ ورکوي چې هغه یو موټر چلوي. د موټر چلولو پر مهال دا سړی ټولې خوشالونکې او زړه بدونکې پېښې تجربه کوي. همدا راز په لوړ سپیډ کې شمال او د لمر تودوخه چې د ده پر مخ لګیږي هم تجربه کوي.

په خلاص فکر سره پر دې موضوع سوچ وکړل شي درک کول یې اسانه دي. ان که دا بیلګې هم ور نه کړئ کومه خبره نه ده دا موضوع ماته ډیره روښانه شوې ده. خو دا هم ده چې هغه چا چې پخوا په دې اړه فکر نه وي کړی د لومړي ځل لپاره لږ نا آشنا ورته ښکاري. کله چې سړی درک کړي چې هغه حقایق چې له زوکړې راهیسې سم ورته ښکاریدل په حقیقت کې له هغه څه بل ډول دي چې دی عقیده پرې لري، په خلکو کې بیلابیل غبرګونونه را پاروي. خو که د چا بنسټیز هدف پر حقیقت پوهیدل وي پرته له کوم اعتراضه یې مني. نو له دې کبله، د ورځني ژوند بیلګې به دا یقیني کړي چې موږ دا حقیقت درک کړی دی. د دې ترڅنګ، دا کافي نه ده چې دا موضوع یوازې د تخنیکي پلوه روښانه شي. موږ به له دې هم اخوا وخوریږو او پایلو ته به یې هم کتنه وکړو.

احمد: پر هغه څه چې تا تر اوسه ویل ښه پوه شوم. خو زه په دې تلوسه کې یم چې دا موضوع به موږ په کومه بیایی. دا اوس لږ څه سخته ده چې له دا ډول نااشنا موضوع سره سړی روږدی شي.

مراد: زما په فکر تاسې په هغه حالاتو ښه پوهیدلي یاست چې موږ اوس په کې یو. خو په هر لحاظ، دا دومره ګرانه موضوع نه ده دا روښانه حقیقت دی چې ساینس هم منلی دی. خو څرنګه چې تاسې ته اړینه ده د دې موضوع په اړه یوه قاطع نظر ته ورسیږئ راځئ چې له بله اړخه ورته وګورو. اوس، عایشې، کولی شې موږ ته د یو داسې خوب په اړه ووایې چې پر تا یې ژوره اغیز کړې وي او اوس هم ستا په یاد کې پاتې وي؟





عايشه: همدا پرون شپه مې داسې خوب ليده چې زه يې په رښتيا هم وويرولم. زه په يو ځنګل کې د يوه وحشي ځناور تر حملې لاندې راغلم. ما له ډېرې وېرې په يوه شاړه ځمکه ډېرې تيزې منډې وهلې چې نا څاپه مې په بوټو کې پښه ونښته او راولوېدم. دا ځناور را نږدې شو. زه يوې کوډلې ته وتښتيدلم دروازه مې کلکه پورې وهله او قلف مې کړه. اوس ځناور په دې هڅه کې و چې د کړکۍ له لارې ځان راورسوي. ما د اوسپنې يوه ميله راواخيستله او زړه نا زړه مې له ځانه دفاع کوله او غوښتل مې چې له شره يې ځان خلاص کړم.

په دې ځای کې وم چې د موټر د هارن په آواز را ويښه شوم. بيا پوهه شوم چې دا خو يو خوب و، لومړی مې يوه ژوره سا واخيسته او بيا آرامه شوم.

مراد: هغه څه چې موږ په ويښه تجربه کوو او هغه چې په خوب وينو څه توپير سره لري؟ کيدی شـــي پردې تاسو تر اوسه فکر نه وي کړی. کيدی شی دا تاسو ته هيڅ نه وي پيښ شـــوي، خو د خوب ليدل به له موږ ســـره پر دې موضوع د پوهيدو په برخه کې زياته مرســـته وکړي. که خوب د ليدلو پر مهال هر څومره روښانه او روڼ وي، خو چې کله زموږ فکر په ورځنيو کارونو کې ډوب شو ليدل شوی خوب خپل روڼوالی او اغيز له لاسه ورکوي. هغه څوک چې لږ مخکې له خولو ډک له يوه وحشتناکه خوبه را پاڅيدلی وي، ډير ژر پرته له دې چې د ليدل شوي خوب هغه دردونکي احساسات ورسره وي د سبانهاري دسترخوان ته کښيني. او يا هغه ماشوم چې د يوه خواږه خوب پـــه نيمايي کې ښـــونځي ته د تللو لپاره را ويښ کړی شـــي د مخ له پريمينځلو ســـره سمدســـتي هغه په زړه پـــورې صحنې هيروي. ځينې وخت په خوب کې ليدل شـــوې صحنې دومره رڼې او روښـــانه وي چې خلک تر ويښيدو وروسته حيران وي چې دا خوب و که حقيقت.

احمد: تيره مياشـــت ما هم يو ډېر روښـــانه او روڼ خوب وليده. ما په خوب کې د يو ساحل په اوږدو کې بيړۍ چلوله. زما ملګري ساحل ته راغونډ شوي ول او د دې نوې ستاينه يې کوله. ما نوره هم بيړۍ تيزه کړه غوښتل مې چې په دې کار هغوی له ځانه متاثره کړم. د سمندر هغه تيز وږم او هغه تيز باد او زما پر مخ د مالګينو اوبو باران چې په اوبو کې د بيړۍ له چټک حرکت څخه رامنځته کيدل اوس هم په ښـــه توګه را پـــه زړه دي. کله کله خو به ما په خپل لاس د ســـمندر د اوبو څاڅکي له عينکو څخه پاکول. نا ببره بيړۍ له يوې تيږې ســـره ولږيدله او په ډوبيدو شـــوه. ما اوبو ته ټوپ وواهه او په خورا ســـتونزو مې وچې ته لامبو ووهله. همدا و چې را ويښ شوم او په خولو لت پت وم. د دې خوب وروسته بيا ما زړه ونه کړ چې ماشينې بيړۍ وچلوم.



مراد: تا په خوب کې دا صحنې ډېرې روښانه لیدلې، همداسې نه ده؟ اوس کوښښ وکړه چې د خوب نور جزیات راپه زړه کړې. د بیلګې په توګه، احمده ته کولی شې چې غږ، رنګ او وږم او هغه احساسات چې تا د بیړۍ د چلولو پر مهال درلودل سره توپیر کړې لکه ویره، ولړه او هغه خوښي چې بیا د راپاڅیدو پر مهال تا احساسوله؟

احمد: ښایی نا

ابراهیم: ما هم تیره شـــپه یو خوب لیدلی و چې نږدې وو له حقیقي ژوند سره یې غلط کړم. ما غوښتل ماښام لږ وخته بیده شم ځکه چې سبا مې پلان درلود چې جزیرې ته لاړ شـــم او خپلې کورنۍ سره یو ځای ډوډۍ وخورم. زما خور لاړه او په خپله خونه کې بیده شوه. خو زه ډېر ستړی وم او ځای پر ځای وده شوی وم. ما په خوب کې له خپلې خور څخه وغوښتل چې زما نوی کمیس تر پریمینځلو وروسته اوتو کړي. هغې زما کمیس اوتو کاوه او زه یې پر سر ولاړ وم. کله چې سهار راویښ شوم، اسرا زما کمیس هغه ځای کې ایښـــی و چې ما غوښـــتل نو ځکه زه ډاډه نه وم چې دا ټوله پیښه رښتیا وه او که خوب. آیا زما خور په رښتیا هم زما کمیس اوتو کړی و او که دا خوب و؟ ما تر یوې دقیقې فکر وروســـته فیصله وکړه چې دا رښتیا ول، او بیا زه لاړم چې له خپلې خور مننه وکړم. کله چې زما خور دا تعجب وکړ بیا زه ډاډه شوم چې دا خو خوب و.

مراد: بلې، کله نا کله خوب دومره روښانه وي چې له رښتیني ژوند سره یې لږ توپیر کیږي. د دې تر څنګ باید یادونه وکړم چې د هغو شیانو تر منځ چې موږ یې په خوب کې وینو او هغه چې په ویښه وینو هیڅ توپیر نشته. په دواړو حالاتو کې، موږ یو ډول محرک ته یو ډول غبرګون ښیو. د بیلګې په توګه، موږ د خوراک پر مهال د غذا ټول خوند احساســـوو، موږ له خطرناکو حالاتو ویریږو او تیښـــته کوو او په خوښیو کې د خوښـــۍ احســـاس کوو. که څه هم ورځ په ورځ موږ غیر عادی شیان وینو خو زموږ غبرګون د هغو په وړاندې یو شان دی.

احمد: زه بلکل موافق یم. ان هغه وخت چې ما په خوب کې لامبو کوله او په دې هڅه کې وم چې ځان وژغورم هم را په زړه دي چې ما اوبه څه ډول احساسولې.

مراد: د خوب په اړه دا هم ډېره جالبه ده چې ســـړی په خوب کې لیدل شوي شیان څه ډول تجربه کوي. ابراهیمه کولی شې ووایې چې موږ خوب چیرته وینو؟

ابراهیم: ډېره آسانه، موږ خوب په دماغ کې وینو. مانا، فقد لکه موږ چې ورځنی ژوند د دماغ د ادراک په مرکز کې تجربه کوو نو آیا هغه هم په خوب کې وینو؟ له تخنیکی پلوه خو دواړه یو ډول دي.

مراد: تر دې ځایه تاسو هغو شیانو ته ښه غوږ وئ چې وویل شول. ښه نو احمده، موږ ته ووایه: څنګه کیدی شي چې په توره شپه کې چې زموږ سترګې هم پټې وي، موږ داسې روښانه او رنګینه دنیا وینو چې زموږ د دماغ په تورو تیارو کنجونو کې راښکاره کیږي؟ لمر څه ډول ځلیږي، ګلان څه ډول رنګین او سمندر دا ډول شین دی؟ موږ دا شیان په پټو سترګو څنګه وینو؟ آیا موږ د لیدلو لپاره خپلو سترګو ته اړتیا نه لرو؟

احمد: که څه هم زه نور شواهد نه لرم خو یو داسې خوب لرم چې کیدی شي د یو ښه دلیل پرځای کار ورکړي.

مراد: که څه هم موږ د کوم یوه بهرني محرک له خوا نه تحریک کیږو، مانا که څه هم زموږ حسي غړي د یو خارجي محرک لکه نور، رنګ او حجم تر اغیز لاندې نه راځي خو بیا هم احساس او لیدل کولی شو. د دې لپاره چې دغه برداشتونه د ځینو تعاملات په پایله کې یوه دنیا رامنځته کړي موږ هغو سیګنالونو ته کومه اړتیا نه لرو چې زموږ د حسي غړو له لارې له بهره راځي . لیدل سترګه نه کوي او نه غوږونه اورېدل کوي. که دغه ټول برداشتونه په مصنوعي ډول تولید شي او د دماغ اړوندو مرکزونو ته ولیږدول شي موږ به هغه کیک وخورو چې هیڅ موجود نه دي او داسې هیواد ته به هم لاړ شو چې هیڅ شتون نه لري. موږ به داسې ګل بوی کړو چې هیڅ شتون نه لري او دا ګمان به هم نه کوو چې دا ټول خیالي دي.

احمد: لږ نور جزیات هم ور کولی شئ؟

مراد: لکه چې په مخکینۍ بیلګې کې هم ولیدل شول، داسې فکر وکړه چې ته یوې ونې ته ګورې؟ نو ستا سترګه په ونې پورې اړوند سیګنالونه ستا دماغ ته لیږي. که موږ کولی شوای دغه سیګنالونه په مصنوعي ډول تولید کړو او د اړوندو عصبي تارونو له لارې یې ولیږدوؤ، دغه ونه به دې پرته له سترګو هم لیدلې وی.

ابراهیم: د خیالي نړۍ هغه تېره شوې بېلګه دا موضوع په بشپړه توګه روښانه کوي. وګورئ، د دې لپاره چې په دې موضوع مو ښه سر خلاص شي، راځئ چې یو څو نورې بېلګې هم درته ووایم. تاسې پوهیږئ چې د ټیکنالوجۍ په پرمختګ سره یو لړ وسایل چې د سیمولیټر Simulator په نامه یادیږي په زیاتو برخو کې کارول کیږي.





موږ خپل خوب په دماغ کې هسې وينو لکه ورځنی ژوند چې درک کوو. مانا: لکه چې موږ د ورځني ژوند هره پيښه د دماغ د ادراک په مرکز کې درک کوو، خوب هم په همدې مرکز کې درک کوو. له تخنيکي پلوه د خوب او ريښتيني ژوند تر منځ هيڅ توپير نشته.



په دې فلم کې د ځانګړو انځورونو په مرسته چې د سیمولیټر په کارولو جوړ شوي دي د بیلابیلو بعدونو له لارې یو سفر رامنځته شوی
\
دی.





د فلم لوبغاړی سیمولیټر ته ورځي او پرته له دې چې کوم ځای ته لاړ شي، خپل ځان په یوه بیله نړۍ کې ویني



د فلم د لوبغاړي بدن د شلمې پیړۍ په یوه سیمولیشن ماشین پورې تړل شوی دی خو هغه نولسمه پیړۍ ویني. لوبغاړی فکر کوي چې هر څه رښتیا دي، خو موټر، خلک، د هغه خپل کالي او ان خپله څیره یې له هغو برداشتونو جوړه ده چې د ده دماغ ته لیږل کیږي. هیڅ یو یې رښتینی نه دی.

په دې وروستیو کلونو کې د دې حقیقت په اړه ګڼ فلمونه جوړ شول. هغه صحنې چې تاسې یې پورته وینئ د دې ډول سلګونو فلمونو له منځه یوازې د یوه دي، چې سرې کمپیوټر پورې تړل شوی دی او په یوه بشپړه بل ډول نړۍ کې ژوند کوي چې له هغو برداشتونو جوړه ده چې ډېر رښتیني ښکاري. دا فلمونه هم له موږ سره مرسته کوي چې دا واضح او خورا مهم حقیقت درک کړو. دا یو داسې حقیقت دی چې زیاتره خلکو هیڅ فکر پرې نه دی کړی.

ربښتيني ژوند ته ورته خيالي چاپيريال جوړيږي او د هيلميټ (يو ډول خاصه خولۍ) له پيک او لاسپيلو سره د تماس وروسته احساس کيږي. هغه څوک چې دې ارتباطي وســيلې پورې تړلي وي يو داسې چاپيريال تجربه کوي چې ته به وايې حقيقي دی. په يوه ســيموليټر کې، د يوه سړي ګوتې چې لاسپيلې يې اغوستي وي د يوه ميکانيزم له لارې تحريک کيږي چې د ګوتو له څوکو دماغ ته ســيګنالونه ليږي او سړی د بېلګې په توګه فکر کوي چې پيشـــو باندې لاس راکشـــوي. په هيلميټ کې هم همدا ډول يو ميکانيزم پروت دی. د دې لپاره چې دا برداشت نور هم حقيقت ته نږدې شي له هيلميټه سيګنالونه د سړي دماغ ته ځي او په پايله کې د پيشو انځور په دماغ کې جوړيږي. دا راز، سړی د پيشو غږ هم اوري. په دې توګه د پيشو انځور، غږ او احساسول په بشپړه توګه درک کيږي. پرته له دې چې پيشـــو هلته شـــتون ولري ســـړی په ربښـــتيا داسې احساس کوي چې سړی له پيشو سره مينه کوي.

احمد: زه اوس پوه شوم



مور پورته يو سيموليشن ماشين وينو. دا سړی چې ځانګـــړې عينکې يې په ســـترګو کړي دي، غير حقيقي برداشـــتونه ويني او لاســـپيلې ده ته داسې احســـاس ورکوي چې ګوندې کوم شـــي ته ګوتې وروړي چې اصلاً وجود نه لري.

عايشه: زه، هم، فقد فکر وکړئ. که د خوب د ليدلو پرمهال ماته څوک راغلي وی او ويلي يې وی چـــې "مه ويريـــږه". دا خوب دی نه حقيقت. هغه څه چې ته وينې يوازې ســـتا په دمـــاغ کې دي او ته پـــه خپل کټ کې خوندي پرتـــه يې." ما به د هغـــه د خبرو په منلو کې شـــک کړی وی. هو، ما ته دا خبره نوره هم روښانه شوه؛ له ساينسي پلوه هغه څه چې زه پـــه خوب کې وينم او هغه چې په ويښـــه وينم هېڅ توپير نه سره لري. د کمپيوټر په مرسته د خيالي حقايقو رامنځتـــه کول ټولو خلکو ته ښکاره خبره ده. ما هغه ورځ د خيالي حقايقو پـــه اړه يو فلم وليده. دا د هغه موضوع په اړه و چې موږ پرې بحث کوو.

د فلم لوبغاړي کمپیوټر پورې تړل شـــوي ول، او هغوی داســـې احساس کاوه چې بل ځای ته لیږدول شـــوي دي. هغوی داســـې فکر کاوه چې د بېلګې په توګه جمنازیوم ته لیږدول شـــوي دي او د شرقي دود جګړه بیز تمرین کوي خو په حقیقت کې هغوی له هغې چوکۍ څخه چې په یوې کوچنۍ خونه کې د کمپیوټر په مخ کې ایښې وه خوځیدلي هـــم نه و. د فلم یوه کرکټر په کمپیوټر پورې تړل شـــوي لوبغاړي ته وویل چې ته په حقیقت کې خیالي تصویرونه ویني. د فلم لوبغاړي د هغه په خبره هیڅ باور نه کاوه تر دې چې د کمپیوټري انځورونو لړۍ پرې شوه او بیا د هغه باور راغی.

ابراهیم: ما هم دغه فلم لیدلی دی، خو ما له دې زاویې فکر نه و پرې کړی.

احمد: مراده، زه هم پوه شوم، خو کولی شې یو څه نورې بېلګې راکړې چې ښه مو سر خلاص شي.

مراد: یقینا! راځئ چې اوس بېرته ستا خوب ته ورشو. کله چې تا لامبو وهله آیا تا د اوبو یخوالی، د اوبو د پاسه د لامبو وهلو او د اوبو مالګین خوند احساساوه؟ آیا د لامبو پرمهال تا خپلې هلې ځلې او بیا ستړتیا احساسوله؟ او آیا تا د څپو او د سمندري مارغه ســـیګلز غږونه او یا کوم نور جزیات چې ســـتا حواسو د خوب پرمهال راخیستي وي احساسول؟



لکه چې په انځور کې لیدل کیږي د فلم لوبغاړی د اړتیا پر مهال د بشر له واکه باندې کارونه ترسره کوي؛ هغه آن په هوا کې الوزي، په داســـې حال کې چـــې په ډیره ارامۍ ســـره یې ترسره کوي، دا اصلاً هغه خیالي برداشـــتونه دي چې د کمپیوټر په مرسته په دماغ کې تولید شـــوي دي. که څه هم د فلـــم لوبغاړی فکـــر کوي چې له خطره ډک دا کارونه دی ترسره کوي خـــو اصلاً هغـــه پر یوې څوکۍ ناست دی.







په دې فلم کې د فلم اصلي لوبغاړی پر یوې داســې چوکۍ ناست دی چې کمپیوټر پورې تړل شوې ده (پورتني انځور). خو بیا هم ختیځې هنري سیالۍ کوي (منځنی انځور) او دومره چټک حرکات ترسره کوي چې ان له مرمۍ هم ځان بچولی شــي (لاندینی انځور). هر څه دومره حقیقت ته نږدې دي چې لوبغاړی د ســترګو له پرانیســتلو وروسته تعجب کوي چې پر یوې چوکۍ ناست دی. دا ثابتوي چې د دې لپاره چې یو سړی یو ځای ووینې او یا کوم ډول حالات تجربه کړي کوم مجسم بهرني واقعیت ته اړتیا نه لري.

احمد: هو.

مراد: آیا ته باوري وې هغه څه چې ته په خوب کې وینې رښتیا دي؟

احمد: هو

مراد: زموږ ژوند په رښتیني نړۍ کې د خوب پرمهال د انځورونو له لیدلو یو څه زیات قناعت بخښه دی. د پراخه، روښانه او له جزیاتو ډک برداشتونه ددې لامل ګرځېدلې دي چې زیاتره خلک خپل ټول ژوند په دې باور تیر کړي چې رښتیا هم د دې شیانو له اصلیت سره تماس لري. او همدا خبره ستاسې د خوبونو په برخه کې هم سمه ده ځکه تاسې د خوب لیدلو پر مهال داسې فکر کاوه چې رښتیا هم له هغه سمندر او یا له هغې څوکۍ سره تماس لرئ چې تاسې پرې ناست یاست. که لږ په دقت فکر وکړئ، تاسې به پوه شئ چې هغه څه چې تاسې د خوب لیدلو پرمهال تجربه کوئ او هغه چې په ویښه وینئ له ورته برداشتونو جوړ شوي دي.

احمد: زه پوه شوم، خو کله چې سړی له خوبه پاڅیږي، بېرته حقیقي نړۍ ته راځي، هغه ځای ته چې له بیده کېدو مخکې په کې و. نو جوته ده چې زموږ د برداشتونو هاخوا یوه بله نړۍ شتون لري. همداسې نه ده؟

مراد: هغه چې موږ د مادي نړۍ په نامه پېژنو موږ یې په مستقیم ډول نه شو تجربه کولی مانا مستقیم تماس نه ورسره لرو. په حقیقت کې موږ هیڅ نه پوهېږو چې هغه به څنګه ښه لري. هغه څه چې موږ احساسوو هغه معلومات دي چې زموږ حواس او ادراک یې رااخلي که نه موږ یې نه لیدلی شو او نه یې احساسولی شو. له هغه ورځې چې موږه سترګې خلاصې کړي دي یوازې د برداشتونو تر اغیز لاندې یو. څومره چې موږ پوهیږو، او هغه ټول شیان چې زموږ ورځنی ژوند جوړوي لکه ښوونځی، کورنی، د کوچنیانو د لوبو شیان، خوراکي مواد، بس، ملګری، ښکلې منظرې، کور او د کارځای دا ټول د هغه فلم برخه ده چې د دماغ دننه چلیږي. څرنګه چې یو سړی نه شي کولی له خپلو حسي غړو بیرون ووځي نو ممکنه نه ده چې بهرنۍ نړۍ (له دماغه بهر چاپیریال) لمس کړي مانا ووینې چې څه ډول ده. له دې کبله هر سړی په حقیقت کې خپل ټول ژوند له هغو برداشتونو څخه جوړې شوې نړۍ کې تیروي چې د هغه په دماغ کې جوړیږي.



په خوب کې يو سړی ټول هغه کارونه کولی شي چې په پورته انځورونو کې يې وينئ: يو سړی کولی شي ټليفون کې وغږيږي، دفتر کې کار وکړي، د سکي لوبه وکړي، يوه ورځپاڼه ولولي، پر سفر لاړ شي او يا له کوم ماشوم سره لوبه وکړي. له دې سره سره چې دا سړی خوب ويني خو هر څه خورا حقيقي ښکاري. حقيقي نړۍ هم همداسې ده. اصلاً، هغه څه چې په خوب کې تجربه کيږي او هغه چې په ويښه تجربه کيږي دواړه هغه برداشتونه دي چې په دماغ کې درک کيږي. دا يو مهم حقيقت دی چې بايد فکر پرې وشي ځکه چې موږ خپل ورځنی ژوند له همدې حقيقت سره تيروو.

احمد: خو خلک سپوږمۍ ته جګېږي زه کولی شم بس او یا الوتکې ته پورته شم او یو بل ښار ته لاړ شم. آیا دا په دې مانا نه ده چې فضا وجود لري؟

مراد: اصلا، هغه مفاهیم لکه فضا، ژوروالی او اندازه هم د برداشتونو یو برخه ده. تاسې کولی شئ د یو څو ساده بېلګو په مرسته پر دې وپوهېږئ. تا په خپل لیدل شوي خوب کې سپوږمۍ او ستوري ولیدل؟ او همداراز، ته په خوب کې بېړۍ ته هم وختلې او په سمندر کې په چکر لاړې؟


احمد: هو دا خو ده.

مراد: ستا د خوب سپوږمۍ او ستوري هم په هغه فضا کې دي چې په ویښه په کې سپوږمۍ او ستوري وینې، سمه ده؟

احمد: هو، خو...


ابراهیم: زه ځواب ویلی شم؟ ما دا موضوع د رڼا پوهنې Optics په یو کورس کې ویلي وه. هغه څه چې موږ د فضا په نوم پېژنو یو ډول درې بعدي مشاهده ده (ننداره). هغه څه چې په یوه برداشت کې د فضا او ژوروالي په توګه محسوس کېږي ټاکلي فکتورونه دي لکه د بعدونو ښکارېدل، سیورې او حرکت.

مراد: ډېر ښه، هغه برداشت چې د رڼا پوهنې په علم کې فضا ورته وایی لکه د رنګونو برداشت، د یو پیچلي سیستم یوه برخه ده، خو که په ساده تورو کې یې ووایو هغه برداشت چې زموږ سترګو ته رارسیږي یوازې دوه بعدونه لري. مانا اوږدولی او ارتوالی لري. خو دا چې د برداشت بعدونه سترګو له مختلفو زاویو رارسیږي او دواړه سترګې دوه بېلابېل برداشتونه په یوه وخت کېویني نو ځکه ژوروالی او فضا احساس کېږي. هر هغه برداشت چې په یوې سترګې لګیږي له هغه بل څخه چې په بله سترګه لګیدلی دی ځینو فکتورونو لکه نور او موقیعیت ته په پام سره توپیر کوي. کله چې دماغ له دې دوه بېلابېلو برداشتونو څخه یو انځور جوړوي موږ فضا او ژوروالی احساسوو. راځئ یوه تجربه وکړو چې دا خبره مو ښه زده شي. ابراهیم به دا تجربه عملي کړي.



مه پریږده چې د فضا، اندازې او ژوروالي په څیر مفاهیم تا تیر باسي؛ ته د دوی شتون په خوب کې هم درک کولی شې. لکه د ربښتیني ژوند په څیر، ته آسمان ته ګورې او سپوږمۍ او ستوري په هماغه ځانګړي نسبت وینې چې ته یې ورسره لرې؛ په خوب کې یې هم د ویښې په څیر وینې. اصلاً، دوی ستا د دماغ په باصرې مرکز کې پراته دي.

ابراهیم: سمه ده.



لکه چې په پورتني ډیاګرام کې یې وینو، سترګې یو دوه بعدي انځور را اخلي، د لیدلو په پروسه کې له دې دواړو انځورونو څخه چې یو یې د یوې سترګې او بل یې د بلې سترګې له خوا را اخیستل کیږي، یو انځور جوړیږي. او

مراد: لومړی، خپل ښی لاس وغزوه او د شهادت ګوته دې موږ ته راوښیه. اوس همدې ګوتې ته ځیر شه او لومړی دې ښي سترګه او بیا کینه، یو د بل پسې خلاصه او بنده کړه. څرنګه چې دوه بېلابېل برداشتونه ستا په دواړو سترګو لګیږي نو ځکه د دواړو سترګو یو د بل پسې خلاصولو او بندولو په پایله کې وینې چې ستا ګوته له خپل ځایه لږ څه ښوریږي. اوس هماغسې ښي شهادت ګوتې ته ګوره او کینه ګوته دې ورو ورو څومره چې کولی شي سترګو ته رانږدې کړه. تاسې به ووینئ چې سترګو ته نږدې شوې ګوته دوه انځورونه جوړوي چې ثابتوي د ادراک په سیستم کې داسې برداشت رامنځته شوی دی چې د هغې لرې پرتې ګوتې له برداشت سره توپیر لري. اوس که په همدې حال کې خپلې سترګې یو د بل پسې بندې او خلاصې کړئ نو وبه ګورئ چې هغه نږدې ګوته خپل ځای د هغې لرې ګوتې په پرتله زیات بدلوي را بدلوي، دا ځکه چې د دواړو برداشتونو تر منځ هغه توپیر زیات شوی چې پر سترګه لګیږي.



ابراهیم: هو ته ربښتیا وایې.

عایشه: ما هم دا کار وکړ. او دا هم راته په زړه شول چې د درې بعدي فلمونو په جوړولو کې هم همدا تخنیک کارول کیږي. یو انځور چې له دوه بېلابیلو زاویو نه اخیستل شوی وي پر پرده ښودل کیږي. لیدونکی ځانګړې عینکې سترګو ته اچوي چې رنګونه فلتر کوي. د عینکو فلترونه هریو د دواړو انځورونو یو یو را




په یوه درې بعدي فلم کې دوه انځورونه چې له دوه مختلفو زاویو اخیستل شوي دي پر عینې پرده ښودل کیږي. د ځانګړو عینکو په مرسته بیا یو درې بعدي انځور رامنځته کیږي. که څه هم لیدونکي پر پرده کوم دري بعدي انځور نه ویني خو د ټیکنالوجي په مرسته یو درې بعدي برداشت تولیدیږي. په همدې ډول سړی هم خپل دې فکر کې تیروځي چې په خپل چاپیریال کې کومه درې بعدي نړۍ ویني.

اخلي او دماغ بیا دغه دواړه انځورونه په یوه انځور بدلوي او په دې توګه درې بعدي عکس جوړیږي. همداسې نه ده؟

مراد: هو ته سمه خبره کوي! اوس راځی یوه بله تجربه وکړو. عایشې، یوه سترګه دې پټه کړه او چاپېره وګوره. ته اوس هم ژوروالی احساسولی شې، که نه؟ څنګه کېدی شي چې په یوه دوه بعدي ریټینا یو روښانه درې بعدي برداشت جوړ شي؟ د دې ځواب د ژوروالي په هغه فکتور کې پروت دی چې په یوه سترګه د لیدلو پرمهال فعالیت کوي. پر دوه بعدي ریټینا د ژوروالي احساس هغه تخنیک ته ډېر ورته دی چې یو انځورګر یې د یوه دوه بعدي انځور څخه د هغه د حقیقي بڼې د درک کولو په هڅه کاروي. ځیني انځورګر دې ژوروالي ته د لاس رسي په برخه کې ډېر بریالي وي. دې ژوروالي د انځورولو لپاره یو څو میتودونه شته دي لکه د یو جسم د بل پر سر ایښودل، د اتموسفیر لید (پرسپکتیو)، ترکیب، د طول لید، بعد، لوړوالی او حرکت دی. ما یو څه انځورونه له ځانه سره راوړي دي چې دا موضوع به روښانه کړي.

مراد: د ژوروالي د برداشــت په رامنځته کولو کې تر ټولو مهم میتود پر یوه عکس د بل یوه ایښــودل دی. احمده، اوس د ســتا



نوبت دی چې تجربه وکړې. دا دوه قلمونه دې په یــو لاس کې ونیســه او دا یو په بــل کې. له ســترګو یې لږ لرې ونیســه خو یو په بل باندې مه ږده. اوس یوه ســترګه پټه او یو قلــم لږ لرې بــوزه. اوس کــه په دواړو سترګو ونه ګورې ډېره مشکله ده چې پوه شې کوم قلم لرې دی، همداسې نه ده؟

احمد: هو ته رښتیا وایې.

مراد: اوس په داســې حال کې چې یوه سترګه دې پټــه وي، دواړه قلمونه ســره رانږدې کــړه او یو د بل په وړاندې کیږده. اوس ته فضا او ژوروالی ډېر په ښــه توګه اندازه کولی شې، همداسې نه ده؟

احمد: هو سمه ده.

مراد: امریکایی ارواپوه جیمز جې ګیپسن لومړنی کس و چې د ژوروالي په حس کې د ترکیب د بدلون پر اهمیت پوه شــو. په هغه ســطحه چې موږ قدم وهو لکه سړک او یا له ګلانو ډک پټی، اصلاً، د یوه ډول اوبدل شوي جوړښت په څېر دی. هغه جوړښت چــې موږ ته را نږدې دی زیات جزیات په کــې وینو او هغه برخه چې لرې پرته ده دومره مشخصه نه ده. له دې کبله، اسانه ده چې سړی په یوه ترکیب کې د یوه جسم د واټن په اړه قضاوت وکړي.


عایشــه: کله چې تا د کاپر ګل د یوه پټي په اړه خبرې کولې ماته هم یو را په زړه شو چې پرون مې لیدلی دی. د دې معلوماتو د ترلاسه کولو وروسته اوس زه پوه شوم چې ولې د ګلانو ځمکه دومره پراخه ښکارېدله.


مراد: او کله چې ســیوری او نور عناصر هم په انځور کې راوســتل شي درې بعدي انځور تکمیلیږي.


د بېلګې په توګه، کله چې موږ یوه رسامي ستایو یواځېنی لامل یې همدا رښتینوالي ته نږدیوالی او ژوروالی، د سیوري کارول (پرداس) او پرسپکتیو یا د شیانو او انځور ترمنځ د واقعي اړیکو ښودل دي. د شیانو او انځور ترمنځ د واقعي اړیکو ښودل له دې را ولاړېږي چې سړی په انځور کې لرې پراته شیان د نږدې پرتو شیانو په پرتله کوچني ویني. د بېلګې په توګه، که تاسې د طبیعي منظرې یو انځور ته وګورئ، هغه ونې چې فاصله لري کوچنۍ معلومېږي او هغه چې نږدې دي لویې لویې ښکاري. او یا په شالید کې د غرونو انځور د یوه سړي په پرتله چې په مخ کې یې ولاړ دی کوچنی رسمېږي. په یوه اوږده منظره کې رسام له غبرګو کرښو څخه کار اخلي. د ریل پټلۍ چې د دې منظرې په لرې څنډه کې سره یو ځای کېږي، د ژوروالي او واټن مفهوم ورکوي.

عایشه: نو له دې خبرې داسې ښکاري، هغه څه چې موږ د ژوروالي او فضا په نامه پېژنو په اصل کې یو برداشت دی چې زموږ په ذهن کې رامنځته کېږي.


مراد: بلکل، تاسې ګورئ چې دغه عناصر په یوه هنري کار کې سره کارول کېږي او د دې ټولو جزیاتو په سره یو ځای کېدو سره زموږ له برداشته یوه حقیقي او قانع کونکې نړۍ رامنځته کېږي.







په دې انځورونو کې لیدل کېږي چې یو انځورګر څه ډول کولی شي د سیوري او پرسپکتیو یو انځور ته د ژوروالي او رښتینوالي برداشت ورکړي. دا ټول انځورونه په یوه اواره سطحه پراته دي خو کرښې یې داسې رسم شوي دي چې دوی ته د ژوروالي برداشت ورکوي










که ته دا پورتني انځورونه او هغه چې په راتلونکې پاڼه کې دي په ځیر سره وګورې د ژوروالي او فضا یو احساس به ومومي. د بیلګې په توګه په دا پورتني انځور کې تا ته نږدې او له تا لرې ونې ښکاري. خو دا یو دوه بعدي انځور دی ځکه چې ټولې ونې پر عینې سطحه پرتې دي. د پرسپکټیو په کارولو سره د ژوروالي یو برداشت جوړ شوی دی.همداراز، ویلی شو هغه برداشتونه چې موږ په ټول عمر کې وینو اصلاً پر یوه سطحه پراته دي.

احمد: ستا هدف دادی چې لکه چې موږ به د واورې د اورېدو په څېر انځور د تور او سپین تلویزیون پر پرده لیده؟ اوس چې سینما ته ځوک ځي، او هلته که فلم په ښه توګه جوړ شـــوی وي، ورته په زړه پورې وي او داسې فکر کوي چې دا ریښتیا دی. هابله ورځ زه له خپلې کورنۍ سره د یوه درې بعدي فلم لیدو ته تللی وم چې د ډایناسور په اړه و . هغـــوی موږ ته یو یو جوړ عینکې راکړې. ډایناســـور ما ته دومره ریښـــتیني ښـــکارېدل چې کله یې زما خواته ټوپ وکړ ما هم ټوپ کړ. او ماشـــومانو ته مې هم د دې قناعت نه شو ورکولی چې دا حقیقي نه دي.

مراد: ته ریښـــتیا وایې احمده. د یوه برداشـــت یا انځور جزیات لکه نور، ســـیوری او بعدونه چې ځومره ظریف ســـره واوبدل شي هومره ریښتیني منظره ورکوي او زموږ حواس تېرباســـي. نو له دې کبله موږ داسې غبرګون ښیو لکه چې درې بعدي فضا او ژوروالی ریښتیا هم شتون لري. زموږ په دماغ کې د لیدلو مرکز یو سانتي متر مکعب ځای نیولی؛ په دې مانا چې د نخود د یوې دانې هومره دی. هغه ټول شـــیان چې موږ په یوه واټن کې وینو لکه لرې پراته کورونه، د اسمان ستوري، سپوږمۍ، لمر، په هوا







په هغه انځور کې چې ته یې په کین اړخ کې وینې، د دې سـړي او پر سـر یې تیریدونکې تیارې تر منځ فاصله لیدل کیږي. خو هغه ګیلاس چې په ښـي انځور کې د سـړي په لاس کې دی، د الوتکې په پرتله خورا نږدې ښکاري. اصلاً، هغه په لرې فاصله کې پرته الوتکه او هغه ګیلاس چې د سړي په لاس کې دی په یوه سطحه کې پراته دي. د دې خلکو او اجسامو تر منځ هیڅ فاصله نشته. هر انځور د دماغ د ادراک په مرکز کې دی.

کې الوتکه او مارغان په دې کوچنۍ ساحه کې رامنځته کیږي. په بله وینا، له تخنیکي پلوه د هغې الوتکې ترمنځ چې ستا په نظر په فضا کې په لسګونو کیلومتره لوړه ده او هغه ګیلاس چې سـتا په مخکې دی او په لاس یې را اخلې هیڅ واټن نشـته. دا ټول د دماغ د ادراک په مرکز کې پر یوه سطحه پراته دي.

احمد: زه هم پوه شـوم. اوس هیڅ شـک نه کوم چې فضا او ژوروالی د لیدلو، غږ او خونـد په خبر په دماغ پورې اړه لري. نو څه فرق کوي که زه پرې نه پوهیږم، مانا، نو څه فرق کوي که هر څه د یو برداشت په توګه زما په دماغ کې وي؟

مراد: نو بیا دا پوښـتنه ځواب کړه. په کومو شـواهدو موږ دعوا کولی شو چې موږ د خپل ادراک نه بهر یوې مادي نړۍ سره (مستقیم) اړیکي لرو؟

احمد: یوه شیبه وخت راکړه چې فکر وکړم. که موږ هغه څه ته وګورو چې تر اوسه مو خبرې پرې وکړي، داسې ښکاري چې هېڅ دلیل نه شته. خو داسې خلک شته چې اوس هم ادعا کوي هغه ربښتیني او بشپړاجسام چې دا انځورونه ترې رامنځته کيږي بهرنی شتون لري، همداسې نه ده؟

مراد: هو یقینا چې شته، خو احمده، آیا ته کولی شي له هغه څه سره مستقیم تماس ونیسې چې تا ورته مطلقه ماده وویل؟

احمد: نا، اوس زه پوه شوم چې نه شم کولی.

مراد: اوس په دې فکر وکړه چې هغه کومې ځانګړنې دي چې له یوه موټر څخه مادي جسم جوړوي؟

احمد: شیان لکه هغه اوسپنه چې په جوړښت کې يې کارول شوې ده، رنګ او بیا اندازه او وزن يې؟

مراد: اوس موږ بېرته هغه څه ته ورګرځو چې مخکې مو پرې خبرې وکړې، که موږ د موټر له انځوره خپل هغه برداشت لرې کړو چې یو لړ نور ادراکات لکه رنګ، کلکوالی او ژوروالی هم له ځانه سره لري نو څه به پاتې شي؟ او یا که په بله وینا يې درته ووایم، که موږ هغه عصبي تارونه چې له حسي غړو څخه زموږ دماغ ته تللي دي غوڅ او یا يې فعالیت د لنډ وخت لپاره وځنډو، څه به ولرو؟

احمد: هېڅ څه.

مراد: له دې کبله ته هیڅ نه شې کولی د هغې مادې اصلیت درک کړې چې الله پیدا کړې ده او زموږ نه بهر شتون لري. زه دلته د برټراند روسل یوه وینا لرم چې زموږ د بحث په اړه ده. هغه وايي، "د لامسې حس په برخه کې باید ووایم چې کله موږ میز ته ګوته ور وړو، د ګوتې په سر کې د الیکترون او پروتون تر منځ یو ډول برقي غبرګون رامنځته کيږي، معاصر فزیک ته په پام سره دغه غبرګون د میز د الیکترون او پروتون ته په نږدیوالي سره رامنځته کيږي. که همدا ډول غبرګون د یوې بلې لارې هم زموږ په ګوته کې رامنځته شي، نو موږ به د میز په نشتوالي کې هم کټ مټ همدا میز احساسوو." مانا کله چې ته فکر کوې چې په یوه موټر لاس وهې، دا یو برداشت دی چې له هغو سیګنالونو جوړيږي چې ستا د ګوتې له الیکټرون او پروټون څخه ستا دماغ ته لیږل کيږي.




که یو کمپیوټر له دماغ سره وتړل شي او برقي سیګنالونه له کمپیوټره دماغ ته ولیږل شي چې د تماس حس رامنځته کړي، ان که د تماس اصلي عمل هم ترسره نشي خو بیا هم دا سړی فکر کوي چې دی له کوم شي سره تماس لري. دا ډول احساس د سیمولیټر له لارې ډیر آسانه جوړیږي.

احمد: له دې ځایه پوهیږو چې د هغه څه حقیقت چې موږ یې ماده بولو په بشپړه توګه نا معلومه دی.

مراد: احمده ته ربنتیا وایې، هیڅوک د مادې پرحقیقت نه پوهیږي. هر هغه څه چې ماده ورته ویل کیږي یوازې یو برداشت دی. زموږ ادراک موږ ته داسې سیګنالونه لیږي چې موږ یې د رنګ، رڼا او بوی په توګه برداشت کوو خو له دې اخوا هېڅکله موږ ته اجازه نه راکوي چې د مادې اصلیت سره تماس پیدا کړو. او ساینس هم همدې پایلې ته رسېدلی دی. هغه خلک چې ماده یوازینی مطلق موجود بولي په ماده پرستۍ کې داسې معقول، منطقي او ساینسي شواهد نه شي پیدا کولی چې د دې حقیقت په وړاندې یې ننګه وکړي، چې سړی نه شي کولی د مادې له اصلیت سره مستقیم تماس ولري. ځکه چې په ټول عمر کې موږ په دماغ کې جوړ شوي انځورونه ګورو او څرنګه چې زموږ ټول ژوند له همدې انځورونو جوړ دی نو له دې کبله نه شو کولی هغه څه ته مطلق څیز ووایو چې د مادې په نامه زموږ له حواسو بهر پروت دی. دا داسې مانا لري لکه یو ړوند چې پر رنګونو تبصره کوي؛ څرنګه چې هغه هیڅ رنګ نه دی لیدلی نو نشي کولی پرې تبصره وکړي.

ابراهیم: مراده، یو څه چې هغه ورځ تېر شوي را په زړه شول، ما او زما دوه ملګرو زموږ د کور په مخ کې په ټیلیسکوپ باندې سپوږمۍ کتله. ما خپلو ملګرو ته وویل چې سپوږمۍ یوه ډېره ښکلې منظره لري. دا ډېره په زړه پورې ده چې که څه هم ډېره لرې ده خو داسې برېښنده رڼا ورکوي. که څه هم په زرګونو کیلومتره لرې ده خو تاسې د هغې پر سطحه غرونه او د اورشیندو (آتشفیشانونو) ځایونه وینئ." په خبرو خبرو کې زما د سترګې جېړمه په خاربښت شوه، کله چې ما په مښلو پیل وکړ ومې لیدل چې سپوږمۍ په بېلابېلو خواؤ حرکت کوي. له ټیلیسکوپ نه رادیخوا شوم. په داسې حال کې چې یوه سترګه مې تړلې وه د بلې سترګې مښل مې روان وساتل. زما د سترګې د جېړمې له ښورېدلو سره شا او خوا کورونه، زما ملګري، سمندر له یوې څنډې تر بلې او د سیمې ټول کورونه په بېلابېلو خواؤ په حرکت راغلل. که ما رښتیا هم له سپوږمۍ سره چې دومره لرې ده مستقیم تماس درلودی نو آیا د سپوږمۍ هغه انځورونه چې ما لیدل د سترګو د مښلو په څېر د یوه کوچني حرکت په مرسته په یوې خوا او بلې خوا حرکت کولی شو؟ زما ملګري، ساحل، د سیمې کورونه او سمندر داسې ښکارېدل لکه چې په بېلابېلو واټنو کې پراته وي. خو د سترګو د مښلو په څېر یوه کوچني حرکت هرڅه په یو ځل سره وخوځول. اوس زه پوهېږم چې زه په خپل فکر کې تېروتلی وم چې ګڼې هغه څه چې زه له خپل ځانه بهر د یو جسم په توګه ګورم زما نه فاصله لري. اصلاً، سپوږمۍ، نور اجسام او ان زه په خپله هم ورسره په یوه سطحه کې قرار لرم.

مراد: ډېر ښه! اوس راځئ چې تکرار یې کړو. یو سړی چې په کوڅه کې روان دی اصلا په هغه کوڅه کې قدم وهي چې د هغه په ذهن کې ده او هغه موټر هم چې د هغه تر څنګ تېرېږي د هغه په ذهن کې دی. او که موږ په یوه خالي سړک قدم وهو او لکه د ابراهیم په څېر د خپلې سترګې لاندینۍ جېړمه ومښو دا پیښه به په راڼه ډول ووینو. سړک او ونې په بېلابېلو خواؤ خوځېږي. دا زموږ په دماغ کې د برداشتونو خوځېدا ده لکه د هغو انځورونو په څېر چې موږ د انتینا د جوړولو پر مهال د تلویزیون پر پرده ګورو، نو موږ دا ډول یوه اغېزه دلته هم لیدی شو. موږ داسې یوو لکه چې په دماغ کې مو یو سړی تلویزیون ته مخامخ ناست وي: کوم انځورونه چې پر پرده ښکاري هغه څه دي چې موږ یې ګورو. هر څه چې موږ ترسره کؤ، هر څه چې خورو، په سړک قدم وهو، ښوونځي ته زو، له ملګرو سره ګورو لنډه داچې زموږ ټول عمر داسې دی لکه چې یو وېډیو کېسټ ګورو. انځورونه، غږونه، بوی، خوند، او تماس ټول په دماغ کې احساسېږي. په بله وینا، موږ بهرنۍ دنیا په خپله دننۍ دنیا کې احساسؤ. موږ خپل ټول عمر په دماغ کې پرتې یوې کوچنۍ خونه کې تېرؤ او له







د ابراهيم بيلګي ته په پام سره کله چې يو سړی سپوږمی، هغه ټيليسکوپ او يا په مخ کې يې پرتې منظرې ته ګوري، دی اصلاً هغو انځورونو ته ګوري چې په يوه سطحه کې دي. خو، دا انځورونه يو سړي ته دا ګمان ورکولی شي چې دوی په بيلابيلې فضا کې پراته دي. که ته هغو اجسامو ته وګورې چې په فضا کې دي او د ابراهيم په څير د خپلې سترګې لاندينۍ جيګمه ومو‌ږې، ته به يې وګورې چې دا اجسام په خپلو ځايونو کې ثابت نه پاتې کيږي بلکې يوه خوا او بلې خوا خوځيږي.

هغه ځايه بهرنۍ نړۍ د تلويزيون په پرده کې ګورو. موږ دا هرڅه په دماغ کې پرتې يو سانتي متر مکعب خونه کې تجربه کوو. موږ په خپل ټول عمر کې د همدې خونې بنديوان يو.

ابراهيم: د بېلګې په توګه، هغه کسان چې د رنګونو ړانده وي (مانا د سترګو هغه مرض چې په ترڅ کې يې سړی شيان تور او سپينويني) نړۍ په بل ډول رنګونو کې ويني آيا دا د پورتنۍ خبرې ښه دليل نه دی؟

مراد: زه فکر کوم چې په دې موضوع ستا سر ډېر ښه خلاص شوی دی. هو، لکه چې تا وويل، څرنګه چې يو سړی په خپل ټول عمر کې همدا انځورونه ويني نو خپله دنيا هسې ويني چې برداشت يې ورته وايي. که حسي غړي له منځه لاړ شي، يو تت برداشت رامنځته کيږي؛ له دې کبله هغه ځوک چې د رنګونو ړوند وي هغه رښتيني

رنګونه نه پېژني. هغه خلک چې د لیدلو ناروغۍ ولري یوه تته نړۍ ویني.

احمد: زه اوس پوه شوم.

مراد: خلک په ټول عمر کې یو ځل هم له دې برداشتونو بهر نه شي تللی. له دې کبله، که سړی دا دعوا کوي چې هغه څه چې موږ وینو کټ مټ هغسې دي چې موږ ته ښکاري او یا داچې فکر وکړو چې موږ یې له اصلیت سره تماس لرو غیر منطقي او بې ګټې دي.

ابراهیم: مراده، زه یوه پوښتنه لرم. آیا پخوا او یا اوس داسې کسان شته چې په دې موضوع پوهیدلي وي؟

مراد: بې شمېره خلک شته دي. نه یوازې د تیورۍ په برخه کې بلکې هغه خلک هم چې په ساینسي برخو لکه فزیک، د اتوم تیوري او په اناتومي کې کار کوي او همداراز وتلي ساینسپوهان چې موږ یې له نومونو سره آشنایی لرو، په یو او یا بل ډول پر دې موضوع پوه شوي دي او خپل خپل تعبیرونه یې وړاندې کړي. ځینې ماده والو مفکرینو لکه مارکس او لینن هم په خپلو وختونو کې دا موضوع مطالعه کړې وه او پر دې ښه پوه و چې دا موضوع د هغوی ماده واله نظریې ته لوی ګواښ دی. له دې کبله، هر څومره چې دوی پر دې حقیقت ښه پوهېدل هڅه یې کوله چې وې ځپي. ځکه چې دا نظر د هغوی شخصي ګټو سره په ټکر کې و. که ستاسې خوښه وي زه به یې اړونده سرچینې هم ستاسې په واک کې درکړم. تاسې هم لږ پلټنه وکړئ او سبا به بیا پر هغو شیانو بحث وکړو چې تاسې له دې پلټنو زده کړي دي.



"... د لامسي حس په برخه کې چې کله موږ میز ته ګوته ور وړو، د ګوتې په سر کې د الیکترون او پروتون تر منځ یو ډول برقي غبرګون رامنځته کیږي، معاصر فزیک ته په پام سره دغه غبرګون د میز د الیکترون او پروتون ته په نږدیوالي سره رامنځته کیږي. که همدا ډول غبرګون له یوې بلې لارې هم زموږ په ګوته کې رامنځته شي، نو موږ به د میز په نشتوالي کې هم کټ مټ همدا میز احساسوو."

برنارډ روسل

# دویمه ورځ







احمد: دا هم زما په دماغ کې دي، خو...

مراد: د ليمو دا تريو خوند په کوم ځای کې احساسوې؟

احمد: دا او تاسې ټول زما په دماغ کې یاست.

مراد: همدا ډول ستا کور، ستا کورنۍ، ستا د کار ځای او ستا کارکونکي، ستا په کارځای کې توليد شوي توکي، هغه تلويزيون چې ته يې ګورې، هغه هېواد چې ته يې سفر کوې، هغه بهرنۍ ژبه چې د دې هيواد اوسيدونکي پرې خبرې کوي او د دې شيانو په اړوند نور معلومات او هغه حافظه چې دا معلومات سره پرتله کوي ټول په دماغ کې دي. همداسې نه ده؟ دلته د دې مهم حقيقت په اړه د دوه وتلو فيلسوفانو نظريات را اخلو چې يو يې برټراند روسل Bertrand Russell او بل يې ايل.ويټجنشټاين L. Wittgenstein دی: "... د بېلګې په توګه، ته نه شې پوښتلی چې ايا ليمو ربښتيا هم وجود لري او که نه او يا دا څه ډول رامنځته شوې. ليمو يوازې يو خوند دی چې پر ژبه احساسيږي، يو بوی چې سپږمو ته راځي، يو رنګ او شکل چې په سترګو کې ليدل کيږي. يوازې دغه ځانګړنې د ساينس د پلټنې او د تشريح

موضوع جوړوي، ساینس د (بهرنۍ) مجسّمې نړۍ په اړه هېڅکله معلومات نشي ترلاسه کولی"


عایشه: نو موږ نه شو داده کېدی چې آیا د خوراک خوند او یا هغه غږ چې موږ یې آورو کټ مټ هغسې دی لکه چې بل سړی یې اوري. آیا موږ همدا وایو؟


مراد: هو، عایشې. تا دا موضوع په ډېر ښه ډول روښانه کړه. وتلی ساینسپوه لینکولن بارنیټ Lincoln Barnett هم دا نظر ورکړی دی: "هېڅ څوک نه پوهېږي چې د دوه کسانو برداشت له سور رنګه او یا له دې یادښته څخه چې 'وې کړه' سره یو شان دي او که نه." موږ یوازې هومره معلومات ترلاسه کولی شو چې زموږ حسي غړي یې موږ ته رالېږدوي، ځکه چې موږ ته ناشوني ده چې هغه مجسم اصلیت ته ورسېږو چې بهر دی. بیا هم همدا دماغ دی چې تعبیرونه کوي. اصلا، داسې وسایل نشته چې موږ یې پر مټ هلته ځان ورسوو. ان که موږ فکر کوو چې موږ پر یوه موضوع خبرې کوو، بیا هم زموږ ادراک له یو بل سره توپیر کوي. د دې لامل دا دی چې درک شوی جسم د هر سړي د ادراک په څرنګوالي پورې اړه لري. تاسې به پوهېږئ چې هېڅ اعتراض او هېڅ ډول داسې شواهد نشته چې د دې حقیقت په وړاندې رابرسېره شي چې هره لحظه چې موږ ګورو یو برداشت دی چې زموږ حواس یې رامنځته کوي او موږ د دې اجسامو له اصلیت سره چې زموږ نه بهر دي هېڅ ډول تماس نه لرو. دې ټکي ته له راتلو سره دا وایم چې هېڅ داسې شک نه دی پاتې چې یو سړی د دې حقیقت له منلو وګرځوي. له دې حقیقته د سترګو اړول هغه وخت شوني دي چې سړی شخصي تعصب او حرص ولري او یا داچې زړه یې دې نړۍ پورې تړلی وي.

احمد: زه باید پر دې ټکي لږ فکر وکړم.

عایشه: زموږ په ذهن کې هېڅ شک نه دی پاتې خو دا ډېره سخته ده چې سړی له دې نظریې سره روږدی شي. ځکه چې موږ په لیدل شویو شیانو کې بې پایه جزیات وینو چې د سړي توجه له (اصلیت) نه ګرځوي. مراده، زه هم یوه پوښتنه لرم. دغه عجیب برداشتونه له کومه راځي؟ د ځواب په اړه یې زه یو څه معلومات لرم خو ښه ده چې ته یې راته روښانه کړې.

**هغه چې تاسې ته درکړی شوي دي د دنیا ګټه او ښایست دی او هغه چې له الله ســـره دي ګټور او تل تر تله دي. آیا تاسې له عقله کار نه اخلئ (سورة القصص: ۶۰)**






یو سړی له زوکړې تر مرګه د براداشتونو د یوې پرله پسې لړۍ سره په تړاؤ کې ژوند کوي. چې خلکو، ځایونو، هیوادونو، کورونو، موټرو، دفترونو، کوڅو، واټونو او له هغو ملیونو جزیاتو څخه جوړ شوي دي چې له دې شیانو سره یو ځای دي. لنډه دا چې په دې برداشتونو کې هر څه د قناعت وړ او خورا رښتیني دي. خو دا ټول شیان له برداشته جوړ دي چې د دې نړۍ لنډ مهاله ښکلا یې جوړه کړې ده.

ابراهیـــم: مخکې له دې چې مراد ځواب ووایي غواړم زه هم یو څه ورزیات کړم. ما د هغې موضوع په اړه چې پرون مراد تشـــریح کړه د پام وړ کتابونه کتلي دي. ما په انټرنیټ زیات وخت تېر کړ او دا موضوع مې د سهار وختي پورې وپلټله. لکه تا چې وویل، کڼ شـــمېر مفکرینو، له محی الدین ابن عربي څخه واخله تر ایمانیول کانټ او جـــارج برکیلي پـــورې ټولو دا موضوع په خپلو خپلو رایو تعبیر کړې ده. خو د وخت حالاتو او مقابل لور د نظریاتو فشـــار ته په پام ســـره دا موضوع سمه څېړل شوې او درک شـــوې نه ده، او ځینو مفکرینو موندل شـــوي معلومات نا سم تعبیر کړي دي. ما بیا پـــه ځینو بهرنیو منابعو کې د دې پوښـــتنې پر بیولوژیکو، فزیکـــي او اناتومیکو اړخونو پلټنې وکړې. ما ته په دې اړه نور شـــک نه دی راپاتې چې هر څه په ادراک کې تعبیرېږي او موږ د دماغ په منځ کې برداشتونه ګورو.

مراد: ابراهیمه، په دې کارونو خو رښـــتیا هم د مبارکۍ حقدار یې! هغه څوک چې پر دې حقیقت سم نه دي پوه شوي چې ماده یوازې یو برداشت دی، هڅه کوي چې په دې وینا د دې پوښتنې مخنیوی وکړي چې: "دا د ایډیالیزم د لرغونې فلسفې یو ډول دی." خو له دې پوښـــتنې ډډه نه شي کېدی. دا یو فوق العاده او داسې حقیقت دی چې د ټول بشـــریت لپاره د ارزښـــت وړ دی. لکه چې تا هم یادونه وکړه، دا د تیورۍ او ساینسي نړۍ کومه نوې موضوع نه ده. په هغه پېر کې چې ســـاینس لا دومره پرمختګ نه ؤ کړی، یو لړ پوه او مفکره خلک له مقدســـو کتابونو، د پیغمبرانو له لارښـــونو او یا د افکارو له لارې پر دې حقیقت پوه شـــوي ول. موږ مخکې له دې مفکرینو څخه د یو څو تنو یادونه وکړه. آیډیالیزم د فلسفې د دوه ګونو څانګو څخه یو دی او تصوف چې مـــوږ یې بېلګې په ځینو هغـــو دینونو کې وینو چې د یوه خـــدای عبادت کوي په دې موضـــوع کـــې ښـــکېل دي. د دې ترڅنګ د ســـاینس پـــه پرمختګ ســـره فزیک، ســـتورپوهنې، اتومي فزیک، ارواپوهنې، بیولوژي او طبي علومو د خپلو فعالیتونو په ترڅ کې، چې د همدې حقیقت په تړاؤ ترســـره شـــوي دي او که نه، خو د دې حقیقت ځینـــې تخنیکي اړخونـــه یې ثابت کړي دي. د دې لامل چې ولـــې زیاتره خلکو ته دا موضوع عجیبه او یا د ادراک وړ نه ښـــکاري دا دی چې له دې موضوع سره آشنایي نه لري. خو، اوسمهال ان د لیسو په بیولوژي کتابونو کې هم دا حقیقت تر ډېره ښوول کیږي چې برداشت په دماغ کې جوړیږي. په دې مانا چې هر سړی ان د ښوونځي له بیولوژي کتاب څخه هم پر دې حقیقت پوهېدی شي.

ابراهیم: دا ډېره ســـخته ده چې یو ســـړی دې له دومره پېژندویه موضوع څخه ناخبره وي. زه نه پوهېږم هغه څه شی دي چې خلک پردې موضوع له فکره څخه ستنوي.



هغه څه چې تر دې دمه وڅیړل شـــول ښـــیي هغه ټول شـــیان چې یو سړی په ټول عمر کې ورســـره لاس او ګریوان دی د هغه په دماغ کې لیدل کیږي. د بیلګې په توګه، کله چې ته د یوې لوړې ودانۍ په شلم منزل کې یوه کړکۍ خلاصه کړې او لاندې وګورې، دا ټول ښار له بلډینګونو، خلکو، دفترونو، موټرو، کوڅو، واټونه، بحر او بې شـــمیره نور شیانو شیانو سره چې ته یې وینې یوازې له هغو برداشتونو جوړ دي چې ستا په دماغ کې درک کیږي.

مراد: متداولو حالاتو، نا سـمو تعبیرونو او د مخالفینو ضد و نقیض غبرګونونو د دې مخنیـوی کـړی دی چې دا موضوع په پراخ ډول ومنل شـي. د نړۍ ماده والو د دې حقیقت د پټولو، دروغجن کولو او مخنیوي لپاره له هر ډول وسایلو کار اخیستلی دی. د بېلګې په توګه، برکیلي د خپل پېر یو ستر مفکر و او په دې موضوع ډېر ښه پوهېده. خو بیا هم د هغو آثارو له امله چې په دې برخه کې یې لیکلي ول د فرانسوي ماده والو لخوا د سـپکاوي او بدنامۍ د یوه کمپاین ښـکار وګرځېده. خو بیا هم دې آثارو له ګڼ شمېر کسانو سره د دې حقیقت په درک کولو کې مرسته وکړه. او تاسې باید په دې پوه شئ چې پر دې حقیقت د پوهېدو مانا د یوه نوي او رښتیني ژوند پیل او د دې نړۍ په وړاندې د یو چا د لرلید بشپړ بدلون دی. په داسې حالاتو کې هغه متریالیستي نظر چې تا ته وایي ماده بنسټیز موجود دی ستا له سترګو پناه کېږي او ته د کائناتو په اړه حقیقي نظر خپلوې. په ټول عمر کې یو سـړی د هغو برداشتونو په مرسته روزل او ازمویل کېږي چې دی یې تجربه کوي. او په دې حقیقت کې د تلپاتېوالي، د زمان د نشـتوالي او تقدیر رازونه پټ دي.

عایشـه: دا یو ډېر لوی حقیقت دی! خو زه اوس هم تعجب کوم. اوس به ته موږ ته د دې برداشتونو سرچینه راوسپېړې؟

مراد: هو، اوس د عایشـې د پوښـتنې د ځواب وخت را رسېدلی دی. زه به وروسته جزیاتو ته لاړ شـم خو اوس به تاسـې ته یو داسـې حقیقت ووایم چې تاسې ټول پرې وپوهېږئ. دا خدای دی چې دا ټول برداشتونه راښیي او موږ ته یې داسې ژوند راکړی چې د برداشـتونو پر بنسټ دی. دا یو ډېر واضحه حقیقت دی. خو مخکې له دې چې د الله بې پایه قدرت او د هغه له نشـت نه د هر څه د خلق کولو په اړه تشـریح درکړم راځئ چې لږ نورو جزیاتو ته ننوزو.

عایشـه: هو، زه ښـه پوهېږم چې دا هر څه الله پاک موږ ته راښیي. خو، خپلې خبرې رواني ساته. وروسته به زه هم یو څه ورزیات کړم.

مراد: اوس موږ پوهېدلي یو چې هر څه موږ د ژوند په توګه تجربه کوو، هر څه چې مـوږ وینو، هر څه چې موږ اورو په دمـاغ کې جوړېږي. هغه څه ته چې موږ نړۍ وایو یو درې-بعدي برداشـت دی چې له ادراکاتو جوړېږي. هېڅ معلومات او یا هېڅ شواهد نشته چې په زبات کړي موږ له یوې بهرنۍ مادي یا مجسّمې نړۍ سره مستقیم تماس لرو. موږ په ټول عمر کې له هغو برداشـتونو پرته چې موږ ته را کول کېږي له کوم بل شـي سره سـروکار نه لرو. وګورئ دلته د یوې تلویزیوني شبکې مشهور

کوربه دی چې له ژورنالستانو سره مرکه کوي. ابراهیمه ته ویلی شې چې څه تیریږي؟

ابراهیم: کېدی شی چې دا کوربه خبر نه وي خو اصلا کله چې دی د تلویزیون پر پرده ښکاري د لیدونکو د یوې ډلې لپاره ننداره نه جوړوي بلکې هغه د یوه برداشت لپاره چې د هغه په دماغ کې دی ننداره جوړوي. کله چې هغه فکر کوي چې خبري کنفرانس ته وینا کوي، اصلا هغه د راپورټرانو هغه برداشت ته خبرې کوي چې د هغه په دماغ کې دی. هغه څوک چې د دې کوربه دا پروګرام ویني هر یو یې په دماغ کې په بېلابېلو ډولونو ویني. هغه هڅه کوي چې دې خلکو ته یو څه بیان کړي، خو دا ټول فعالیتونه د دماغ په توروتیارو کنجونو کې پیښیږي.



د دې حقیقت یوه تر ټولو ښه بیلګه چې ښکاروي مصنوعي حالات د بهرنۍ نړۍ له شتون پرته رامنځته کیدی شي د هینوټیزم عمل دی. هیپنوټیکي وړاندیزونو تر اغیز لاندې ممکنه ده چې یوه سړي ته داسې احساس ورکړي چې توده سره او مالګه خوږه ده. هغه ته داسې احساس هم ورکول کیدی شي چې په ساحل کې په رخصتۍ دی، که څه هم دی همدا شیبه په سټوډیو کې ناست دی.


مراد: ډېر ښه ابراهیمه. خو له دې ډول تشریح او تفکر سره موږ آشنا نه یو. نو راځئ چې یو څه نورو بېلګو ته توجه وکړو. ستا د خوښې پروګرام په کوم یو کانال کې دی؟ یوه شیبه، راځئ چې یو څه نور کانالونه هم وپلټو.

ابراهیم: دا دی د خبرو اترو یو پروګرام. تاسې مخکې کله دا لیدلی و؟ دوی ټل دلته د هیپنوټیزم یوه برخه په دې پروګرام کې لري. مراده، هیپنوټیزم زموږ د موضوع یوه برخه ده، همداسې نه ده؟

مراد: هو څنګه نه ده. هیپنوټیزم له موږ سره مرسته کوي چې په دې موضوع لا ښه پوه شو. د هیپنوټیزم دې ماهر ته وګوره. په هغو لارښوونو سره چې هغه یې کوي خپلو لیدونکو باندې هغه کارونه ترسره کوي چې په حقیقت کې نه پېښیږي. وګورئ، دا کس فکر کوي چې د فټبال یو وتلی لوبغاړی دی او فکر کوي چې دا بالښتونه د فټبال توپ دی. دا ښځه هڅه کوي چې خیالي زنګونه پاک کړي. هغه لوړ سړی فکر کوي د هغه د شا او خوا خلک ټول له بهرنۍ فضا څخه راغلي دي. تاسې یې ګورئ؟ د هیپنوزز له لارې یو سړی لارښوونو او وړاندیزونو پر بنسټ د خوب په ډول یوه داسې نړۍ انځوروي چې په حقیقت کې هېڅ شتون نه لري. او هر وخته پورې چې د هیپنوزز لاندې وي په همغه نړۍ کې ژوند کوي.

عایشه: هو رښتیا! اوس که موږ همدې سړي ته ورشو او ورته ووایو چې، "دا ټول د ستا خیالات دي او ته د هیپنوټیزم لاندې یې. ته په حقیقت کې د فټبال یو مشهور لوبغاړی نه یې او هغه څه چې ته په پښه وهې هغه د فټبال توپ نه دی،" هغه به انکار کوي. که موږ ووایو چې، "دا لحظه ته په یوه سټوډیو کې یې چې نږدې سل کسان دې ننداره کوي،" دا حقیقت به هېڅکله پر هغه ونه منئ.

مراد: ته رښتیا وایې. اوس راځئ چې د نن موضوع ته راشو. "پرون مو وویل چې هر څه له هغو برداشتونو جوړ دي چې د دماغ اړوندو مرکزونو ته رسیږي. هلته بیا موږ درک شوی برداشت احساسوو" دلته درې مهمې پوښتنې رابرسېره کیږي: اول، آیا دماغ دا ټولې وظیفې اجرا کوي؟ دویم، دا احساس کونکی یا هغه څه ته چې موږ "زه؟" وایو څه شی دی. دریېم داچې، د دې برداشتونو سرچینه څه ده او دا ولې موږ ته را لیږدول کیږي.



د هیپنوټیزم په یوه تماشا کې چې د خلکو په وړاندې ترسره کیږي ټول تماشا کوونکي د هیپنوټیزم تر اغیز لاندې سړي په لیدو کې خوښي ښکاروي. دلیل یې دا دی چې دا سړی داسې فکر کوي چې دی په هغه حالاتو کې دی چې لاربنوونې یې وړاندیز ورته کوي او له دې کبله هماغسې اعمال ترسره کوي. د بېلګې په توګه، کله چې هغه ته لاربنوونه کیږي چې دی د فټبال یو مهم ستوری او هغه بالښت چې دده په لاس کې دی اصلاً یو توب دی، نو دا سړی د دې وړاندیز سره دومره ډاډمن وي چې هڅه کوی له بالښت سره داسې لوبه وکړي فکر کوي دا یې بالښت دی.

براهیـــم: یقینا چې دماغ دا ټولې دندې ترســـره کوي. لږ فکر وکړئ. که موږ دماغ نه درلودی، نو هېڅ انځور او یا احساس به نه وی.

احمد: ته ربښتیا وایې.

مراد: آیا ستا هدف دادی چې ووایې دماغ د هغو انځورونو سرچینه ده چې احساسات، خندا او اوښـــکې، اخلاق، معنوي ارزښتونه او ضمیر جوړوي؟ آیا دماغ د غوښې یوه ټوټـــه نه ده چې تقریبا یو نیم کیلو وزن لري؟ آیا د مادي لحاظه د ماغزو د موادو او د هغو نورو جسمونو تر منځ چې موږ یې وینو څه توپیر شته؟ لږ فکر وکړئ. آیا دماغ هم لکه د لاس او پښې په شان یو برداشت نه دی؟

عایشه: ما یې په دې اړخ هېڅ فکر نه دی کړی.

احمد: یوه شېبه. ستا هدف دا دی چې دماغ هم یو برداشت دی چې په دماغ کې درک کیږي؟ که داسې وي، نو موږ ته ویلی شي چې موږ دا هرڅه چېرته وینو؟

مراد: زه به کوښښ وکړم چې تاسې ته دا خبره د یوې داسې موضوع په توګه بیان کړم چې اریان پاتې شئ. اوس به زه تاسې ته هغه څه بیان کړم چې د لومړي ځل لپاره یې اورئ. یوه شیبه مخکې، کله چې موږ په دې خبرې کولې چې موږ څه ډول وینو او یا اورو، ما تاسې ته روښانه کړه چې د اوریدو حس په دماغ کې څه ډول پر غوږ د غړیزو څپو له لړیدو سره جوړیږي او بیا وروسته د عصبي تارونو له لارې دماغ ته د برقي سیګنالونو په بڼه لیږدول کیږي. خو له دې هم په زړه پورې دا ده چې په دماغ کې یو داسې شی موجود دی چې د دې ټولو هیښنده عملیاتونو په پایله کې رنګین درې-بعدي انځورونه ویني، په خورا روښانه ډول غږونه اوري، د سلګونو بیلابیلو خوندونو تر منځ توپیر کوي، فکر، احساس او قضاوت کوي. دماغ لومړی برقي سیګنالونه له سترګې، غوږ، پوزې، ژبې او پوستکي څخه راټولوي. خو د دماغ په منځ کې یو بل موجود شته چې هغه د دې سیګنالونو په تعبیرولو سره برداشتونه ویني. عایشې، موږ دا دعوا نه شو کولی چې د دماغ حجرې دغه برداشتونه پیدا کوي، همداسې نه ده.

عایشه: یقیناً، نا مراده. یوه حجره سترګه او یا غوږ نه لري چې د هغو په مرسته وویني او یا واوري.

مراد: هو، دا د حیرانتیا وړ دی. دغه موجود پرته له دې چې سترګو او یا غوږ ته کومه اړتیا ولري هغه څه ویني چې د سترګو او یا غوږونو له خوا را رسیدلي وي. ساینسپوهانو هم پر دې موضوع بې شمیره نظریات ورکړي دي. یو لیکوال، آر.ایل. ګریګوري دا موضوع په دې ډول بیان کړې ده: "داسې غولونکې لمسونې شته چې سړی یې باید ونه منې، وایي سترګې په دماغ کې انځور جوړوي. د انځور تولید په دماغ کې یو ډول دننیو سترګو ته اړتیا لري چې وې ویني- او دا بیا نورو سترګو ته اړتیا لري چې د دې سترګو تولید شوی انځور پرې وویني...او په همدې ډول دا د تولید شوي انځور او سترګو یوې ناپایه لړۍ ته اړتیا لري. دا خبره زموږ له درکه پورته ده" که تاسو ځیر شئ دا لیکوال پر دې ستونزه ښه پوه شوی او په ښه ډول یې روښانه کړې ده. خو څرنګه چې د ماده وال الواک تر اغیز لاندې و وې نه شو کولی چې دې پوښتنې ته ځواب ورکړي چې "دا دننۍ سترګې له چا پورې اړه لري"، او په غوڅ

ډول يې له دې حقيقته انکار کړی. د ساينس او فلسفې په نړۍ کې کارل پريبرام Karl Pribram د سړي پام هغه موجود په اړه پلټنو ته را اړوي چې برداشتونه درک کوي. "فيلســوفانو د يونان له پيره راپديخوا په ماشين کې د اروا اټکل کاوه په دې مانا چې د يوه سړي په منځ کې وړوکی سړی دی او د هغه وړوکي سړي په منځ کې بل وړوکی ســړی او دا بهير تر لا يتناهي روان دی. "زه" يا هغه موجود چې دماغ په کار اچوي چيرته دی؟ درک او پوهيدل اصلا څوک کوي. او يا لکه د اسيسي سينټ فرانسيس چې وايي، 'هغه څه پسې چې موږ ګرځو هغه څه دي چې ليدل کوي'."
اوس به زه له تاســې بيا وپوښتم چې: که هغه شعور چې زما وينا اوري، د ليدل شويو انځورونو او ډياګرامونو د جزياتو په اړه پوښـــتنې کوي، د پوښتنو د ځواب د ترلاسه کولو په هڅه کې دی، که د دماغ حجرې او يا د ادراک مرکز نه دی، نو بيا دا څه دي؟

ابراهيم: آيا ته وايې چې زموږ په دماغ کې يو داسې موجود شته چې موږ يې نه پيژنو او همدا موجود دی چې اوريدل کوي او زموږه وينا تعبيروي؟



د يوه سړي مغز هم د هغو برداشتونو يوه برخه ده چې سړی سروکار ورسره لري. د هغه مغز په اړه فکر وکړه چې له يوه قصابه يې رانيسې: ته دا مغز په لاس کې نيولی شې، په سترګو يې ليدلی او د نورو حواسو په مرسته يې ارزولی شې. همدا خبره ستا د دماغ په برخه کې هم صدق کوي. همداراز، د غوښې د دې ټوټې لپاره، چې موږ يې دماغ بولو، ممکنه نه ده چې پخپله د خوښۍ او غم احساس وکړي، هغه برقي سيګنالونه تعبير کړي چې ور رالېږدول کيږي، او يا دا چې په سلګونو بيلابيل غږونه، بويونه او خوندونه سره بيل کړي.

مراد: ابراهیمه، ستا د دې پوښتنې ځواب ډېر مهم دی ځکه چې په پلټنو او څیړنو کې تر اوسه دا ډول یو مرکز او یا موجود نه دی موندل شوی. نو په داسې حالاتو کې، هغه څه چې په دماغ کې غبرونه او یا موسیقي جوړوي او هغه چې د خلکو خبرې اترې اوري باید د انسان شعور وي.

ابراهیم: نو دا شعور د دماغ په کومه سیمه کې دی؟

مراد: کله چې زه شعور یادوم، زما هدف د شحم او یا د عصبي حجراتو یو قشر نه دی. دا شعور هغه روح دی چې الله پاک خلق کړی او انسان ته یې ورکړی دی. روح د انځورونو د لیدلو لپاره سترګو او یا د غږونو د اوریدو لپاره غوږونو ته اړتیا نه لري. او نه دا د تفکر لپاره کوم دماغ ته اړتیا لري. دا د الله پاک د قدرتونو څخه دی.

عایشه: نو په داسې حالاتو کې، که دا زموږ روح وي چې لیدل، اوریدل او احساسول کوي نو آیا دا سمه ده چې ووایو زموږ حسي غړي وسیلې دي.

مراد: یقیناً، عایشې.

عایشه: دا خو ډېره عجیبه ده!

احمد: د دې ترڅنګ چې ډېره عجیبه ده، موږ یو ځل بیا زده کړل چې زموږ خپل ځواک یا پیاوړتیا بې ګټې ده او موږ د الله پاک د قدرت شاهدان یو.

مراد: احمده تا ریښتیا خبره وکړه. ستا په څیر کسان چې حقیقت یې درک کړی دی په دې پوه شوي چې الله پاک دا ټول درې بعدي کائنات له رنګونو، سیورو او رڼا سره د دماغ په څو سانتي متر مکعب تورې تیارې سیمې کې ځای پر ځای کړي دي، نو پکار ده چې د الله په اړه فکر وکړو، له هغه وویریږو او هغه ته پناه ویسو.

ابراهیم: زه په دې هم پوه شوم چې زموږ دماغ هم یو ډول ادراک دی. درک یوازې یو شی کولی شي چې هغه روح دی چې الله پاک پیدا کړی او موږ ته یې ښښلی دی. دا روښانه ده چې روح یو ځانګړی مخلوق دی چې له برداشت سره توپیر لري. زه نه پوهیږمه چې ما به له دې مخکې څنګه دا فکر کړی وی چې دا ټول فعالیتونه د دماغ په مرسته ترسره کیږي.

مراد: د روح یوه ځانګړتیا داده چې پر هغو برداشـــتونو اغیزمن کیږي چې ویني یې. دغه برداشـــتونه په روح کې د ځینو احساساتو لکه رضایت، درد، خوښۍ، او ویرې د رامنځته کیدو لامل ګرځي. دا برداشتونه داسې خلق شوي دي چې روح پرې اغیزمن کیږي او روح داسې خلق شوی دی چې له دې برداشتونو باید اغیزمن شي. په دې ډول مـــوږ هریو خپل ځان په خپله نړۍ کې مومو. دا د ازموینو ځای دی. نو، هغه څه چې موږ د نړۍ په نامه پیژنو د یو لړ ځانګړو برداشتونو لړۍ ده چې د روح له خوا درک کیږي.

عایشه: که روح یوازینی موجود وي چې برداشتونه درک کوي، باید دلته له روح پرته یو بل اوچت ذات هم وي چې دا برداشـــتونه موږ ته راښیي. پردې سربېره، باید موږ ته د دې برداشتونو د راښودلو تر شا یو بنسټیز هدف هم پروت وي.

مراد: هو، اصلاً موږ پر دې موضوع پرته له دې چې نوره یې وغزو پوهېدی شـــو، لکه چې تاســـې هم پوهیږئ، دا یوازې الله دی چې د بې پایه پوهې خاوند دی او موږ ته دا هرڅه راښیي. الله په پرله پسې ډول دغه انځورونه زموږ په روح کې کښېنوي. په دې ډول، الله پاک موږ په خپله نړۍ کې مېشتوي او هلته له موږ څخه ازموینه اخلي.

عایشه: موږ دا د تلویزیون د خپرونو په څېر ګڼلی شو، همداسې نه ده؟ مانا، الله پاک، له خپل حکمت او پوهې سره سم هغه موجود ته چې موږ یې روح بولو دا وس ورکوي چې دا برداشتونه د نړۍ په ډول درک کړي. څرنګه چې د انځورونو دا بهیر په پرله پســـې ډول روانه وي، او هغه برداشـــتونه چې الله پاک د خپلې ارادې سره سم موږ ته راښیي موږ یې په تجربه کولو سره په وړاندې داسې غبرګون ښییو چې د اصلیت پته یې نه راته لګیږي.

مراد: دقیقا، اوس چې موږ د روح شتون په زبات کړ، نو باید د دې برداشتونو سرچینه او دلایل هم تر څیړنې لاندې ونیسو. موږ له هغو شیانو چې تر اوسه مو زده کړي دي د حیاتي ارزښـــت پایلې تر لاسه کولی شو. لومړۍ موضوع د دې برداشتونو سرچینه او څرنګوالی دی. اوس پوهیږو چې موږ د دې نړۍ له اصلیت سره چې زموږ نه بهر پرته ده هیڅ ډول مستقیم اړیکي نه لرو او داچې موږ یوه ښکلې نړۍ چې له برداشتونو جوړه ده مشاهده کوو. ددې برداشتونو ښکلا او د هغو په خلق کولو کې د هنر، حکمت او پوهې شتون موږ ته د یوه لوی خالق شتون را څرګندوي. له الله پرته چې هرڅه یې پیدا کړي دي، بل مطلق موجود نشته. د الله د شتون نه پرته نور هرڅه د هغه د قدرت نښې دي چې الله یې موږ ته راښیي.

ټول ځواک، پوهه، علم، کمال، قدرت او حکمت یوازې د الله دی. که موږ د هغې اوچته پوهې په اړه چې د دې برداشتونو په خلقت کې تر سترګو کيږي او د دې برداشتونو په وړاندې د روح د موقف په اړه فکر وکړو موږ به په ډېر اریانونکي ډول د الله شتون او د هغه ځانګړنې (صفات) وپیژنو. که موږ په دې حقیقت پوه نه شو نو زموږ ایمان پر الله بې له نقصانه نه شي کیدی او د الله په اړه به ډېر ناسم تصورات په خپل ذهن کې ګرځو.



عایشه: چې داسې ده، نو پرته له الله څخه بل مطلق موجود نه شته.

مراد: دقیقا، پرته له الهی ذات څخه بل هیڅ مطلق موجود نه شته. او نه شونی دی. خو، د هغه د خلقت د معجزو او نښانو اوچت طبیعت او بې پایه علم سره، الله موږ ته دا مادي کائنات د "تصور"، "خیال" او "انځور" په توګه راښیي. هغه بشپړتیاوې چې د هغه په خلقت کې پرتې دي بشر ته هیڅکله اجازه نه ورکوي چې بهرنی نړۍ ته چې له دماغه بهر ده لاسرسی پیدا کړي. یوازې الله پاک د مادي کائناتو له اصلیت څخه خبر دی او پوهه یې لري. که موږ وایو چې هر څه په مطلقه مانا شتون لري او یا دا چې موږ کوم مستقیم اړیکی له هغو سره لرو زموږ له ناسم منطق څخه سرچینه اخلي. برسیره پردې څرنګه چې دا هرڅه موږ ته د یو برداشت په توګه ښکاریږي چې الله خلق کړی دی، نو هیڅ داسې ځواک او یا اراده نشته چې له الله څخه خپلواکه شتون ولري. ځینې خلک چې غواړي د الله شتون ثابت کړي له ځانه یو ډول دلایل جوړوي او وایي "که موږ الله نه وینو نو راډیوي څپې هم نه شو لیدلی." موږ پوهیږو چې رادیوي څپې شته دي، له دې کبله خدای پاک هم لکه د راډیوي څپو هسې شتون لري." دا ډول استدلال ناسم دی. هغه خلک چې دې ډول استدلال ته مخه کوي په دې عقیده دي چې ماده یو مطلق څیز دی داسې تصور کوي چې

(بیشـــکه چې الله له دې خبرو ډېر اوچت دی) الله د يو ذهني وجود په توګه شتون لري چې له مادې را چاپیر دی. خو، اصلا الله مطلق ذات دی. دا نور شـــیان ټول د هغه د شتون نښانې دي چې د هغه په قدرت جوړ شوي دي. يوازې الله حقيقي شتون لري؛ دا نور ټول خيالي موجودات دي.

اصلاً هر سړی پخپلې پردې انځور ګوري؛ مانا هغو انځورونو پورې اړه لري چې د هغو روحونو ته ورښودل کيږي. ان که څو کسه هم په یوه ځای کې وي، له هغو انځورونو خبر نه دي چې بل ورسره په تماس کې دی. هر سړی هغه انځور ليدلی شي چې پر خپله پرده يې ښکاري.



احمد: خو موږ دا شیان په دې توګه نه و زده کړي! زما هدف دادی چې سمه ده چې الله ټول خلک پیدا کړي دی. هیڅ بل معبودې برحق له هغه پرته نشته، او ټول اوچت صفات یوازې د هغه دي. خو موږ په دې نړۍ کې په خپله خوښه او پوهه ژوند کؤ. مانا هر سړی خپل ژوند پرمخ وړي.

مراد: لکه چې احمد هم وایي چې د خلکو ذهنونه د بې بنسټو نظریاتو په پایله کې د الله او د تقدیر په اړه بیخي مغشوش شوي دي. څوک چې په دې عقیده دي چې ماده له الله خپلواکه ده، طبیعي ده چې هر څه به د همدې عقیدې په رڼا کې تعبیروي. هغه څوک چې د الله تلپاتې قدرت، پوهه او مطلق شتون نه شي درک کولی ډېر ناسم نظرونه لري. دوی د الله په اړه داسې انګیري چې ګویا هغه چیرته په آسمانونو کې دی او د ځمکې په کارونو کې هیڅ ډول مداخله نه لري. د هغوی په فکر یوازې دا نړۍ چې دوی په کې ژوند کوي واقعیت دی. دوی ان په خورا تکبر سره دا دعوا کوي چې اصلا دوی پخپله مادي موجودات دي او الله (بیشکه چې الله له دې ټولو اوچت او پاک دی) یو خیالي حیثیت لري؛ یو داسې غیر مادي معنوي موجود چې پر ماده هیڅ اغیز نه لري.

او یا دوی الله ته د یوه خیال فکر کوي (بیشکه چې الله له دې پاک دی) چې په مطلقه ماده کې تیت دی. او یا څرنګه چې یې په خپلو سترګو نه ویني، نو وایي: "الله به په فضا او د بشر له سترګو لرې په یوه داسې ځای کې وي چې موږ یې نه شو لیدلی. "بیشکه چي الله له دي اوچت دی".

الله په هر ځای کې دی نه یوازې په اسمانونو کې. د یوه مطلق ذات په توګه، الله ټول کائنات، خلک او ځایونه، آسمانونه او ټول ځایونه احاطه کړي دی. د الله نښانې په ټول کائناتو کې لیدل کیږي. یوه حدیث ته په پام سره، پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي که څوک ووایي چې الله په آسمان کې دی هغه رښتیا وایي. خو دا حدیث له دې سره هیڅ اختلاف نه لري چې الله په هرځای کې دی. ځکه چې یو سړی به ستاسې په موقیعیت کې لاس پورته کوي او وایي به چې الله په آسمان کې دی، خو یو بل سړی په جنوبي قطب کې ستاسې په څیر اسمان ته ګوته نیسي، بل سړی په شمالي قطب کې او یو بل سړی په جاپان، امریکا یا اکوادر کې په همدې ډول لاس پورته کوي او الله ته رجوع کوي، نو شونې نه ده چې سړی یو ثابت لوری وښیي. همداراز، که پیری، ملائیکه او یا شیطان د کائناتو او د فضا په بیلابیلو برخو کې الله ته دعا کوي بیا هم د یوه ثابت طرف په اړه خبرې نشو کولی، او حالات به همدا وي چې ټول کائنات یې تر پوښښ لاندې دي.

مـــوږ بایـــد دا هم هیر نه کړو چې الله د مکان او زمان پورې محدود نه دی. الله یو بیل ذات دی. خو نښاني یې هر لورې دي. که یو سړی یوې خونې ته ننوزي او وایي چې دلته الله نشته نو د الله انکار کوي. د الله نښې نښاني په همدې خونه او هر ځای کې شته دي. هر لورې چې تاسې مخ واړوئ د الله نښې هلته شته دي. د قرآن زیات شمیر آیتونه فرمایي چې الله په هرځای کې دی، او هغه د غاړې له رګه هم موږ ته رانږدې او هر خوا چې وګورو د الله د شـــتون آثار وینو. د بیلګې په توګه د ســـورة البقرې ۲۵۵ آیت فرمایي چې: **"... د کرســـي پراختیا یې هومره ډیره ده چې آسمانونه او ځمکې پکې ځای شـــوي دي....."** د ســـورة هود ۹۲م آیت کې فرمایي، **"...زما رب د ستاسې پر ټولو کړنو ښـــه احاطه کونکی دی"** پـــه دې مانا چې الله د خلکو پر اعمالو هم احاطه لري.

عایشه: ما تل همداسې فکر کاوه ځکه چې ما ته همداسې را ښودل شوي ول. خو اوس زه پوهیږمه چې ما څومره ناسم فکر درلود.

مـــراد: قـــرآن عزیز دا موضوع په څو آیاتونو کې یاده کړې ده او دا هغه مهم راز دی چې پر ځینو نورو آیاتونو پوهیدو ته لار پرانیزي. ستاسې په څیر خلکو ته چې درک کړې مو ده د مادې له اصلیت سره مستقیم تماس نه لرئ هر څه روښانه او څرګند دي. دا ډول خلک ډېر ژر درک کوي چې الله پاک دوی ته څومره نږدې دی. ستاســـې په ذهنونو کې به مخکې هم دا خبره تیره شـــوې وي چې الله پاک بشـــر ته څومره نږدې دی، خو که تاســـې پر هغه څه فکر وکړئ چې موږ تر اوسه پرې خبرې کولې، و به منئ چې الله پاک په ټول ژوندانه کې له بل هرڅه نه موږ ته نږدې دی.

ابراهیم: ما د موضوع په دې اړخ هیڅ فکر نه ؤ کړی.

مراد: ابراهیمه، الله پاک تا ته له عایشې، احمد، زما او ان د ستا له ځانه هم نږدې دی. د ســـورة ق په ۱۶ آیت کې الله پاک د انســـان په اړه داسې وایي، **"او موږ د غاړې له رګه هم ورته نږدې یو."** او همدا راز د ســـورة الاسراء په ۶۰م آیت کې دا حقیقت په دې ډول بیان شـــوی دی، **" ستا رب ټول خلک په واک کې را ایسار کړي دي."** هغه څوک چې په دې عقیده دی چې د هغه ځان له مادې جوړ دی دا مهم حقیقت نه شـــي درک کولی. د بیلګې په توګه که یو ســـړی خپل دماغ د یو ځای په توګه ومني چې له ځانه یې بهر پروت دی نو نږدې ۳۰-۲۰ سانتي میتره لرې کیږي. خو که سړی درک کړی چې د مادې له اصلیت ســـره تماس نه لري او هر سړی یوازې په خپل دماغ کې له برداشتونو سره سر او کار لري، داسې مفاهیم لکه بهر، دننه او نږدې والی بې مانا

کیږي. الله پاک پر موږ ټولو احاطه او موږ ته ابدي نږدیوالی لري.

ابراهیم: ابدي نږدیوالی! ما د دې په اړه مخکې هیڅکله معلومات نه درلودل. دا خبره اوس ما ته سپینه شوه خو ما تر نن ورځې هم په دې اړه فکر نه و کړی. دا ډېره د اریانتیا وړ ده.

مراد: د دې موضوع په تړاؤ نور آیاتونه هم شته. زه به دا آیاتونه تاسې ته تلاوت کړم، تاسې غوږ ونیسئ.

**"کله چې روح مری ته ورسیږي او تاسې په رډو رډو ورته ګورئ، نو موږ له تاسو ډیر ورته نږدې یو خو تاسې نه وینئ."** (سورة الواقعة: ۸۵-۸۳)
په یو بل آیت کې الله موږ له دې موضوع داسې خبروي:
**"او کله چې زما بنده ګان له تا څخه زما په اړه پوښتنه وکړي. نو ورته ووایه چې: زه نژدې یم، د هر بلونکي بلنه منم چې ما راوبولي. نو باید زما مننه وکړي او پر ما ایمان راوړي چې سمه لار ومومي."** (سورة البقره: ۱۸۶)

ابراهیم: هو، دا آیاتونه ډېر روښانه دي. کله چې تا د ابدي نږدیوالي خبره وکړه زه اوس په رښتینې مانا پوه شوم چې تا څه ویل.

عایشه: زه هم پوه شومه او ډېره اریانه یم. الله هره لحظه له ما سره دی. هغه هره دعا اوري. هغه له هر هغه څه خبر دی چې زه یې ترسره کوم او یا یې په اړه فکر کوم. هغه له ما څخه هم ما ته نږدې دی. دا رښتیا هم هیښنده حقیقت دی. زه نه پوهیږمه چې څنګه ما په دې اړه مخکې هیڅ فکر نه ؤ کړی.

مراد: د مادي پر طبیعت پوهیدل ځینې نور شیان هم روښانه کوي. هغه څوک چې په دې اړه فکر وکړي درک کوي چې پرته له الله څخه بل هیڅ مطلق ذات شتون نه لري، ټول شیان هغه پیدا کړي دي او هره لحظه یې کنترولوي. د بیلګې په توګه، سورة النمل ۶۴ آیت بیانوي چې "امن یبدا الخلق ثم یعیده." **مانا، الله پاک هره لحظه در هر شي پیدا کونکی دی."** د سورة فاطر ۴۱ آیت دغه حقیقت داسې روښانه کړی دی: **"بې له شکه چې الله پاک آسمانونه او ځمکه له بې ځایه کیدلو څخه ژغوري. او قسم دی که چیرې دواړه بې ځایه شول نو پرته له الله یې بل هیڅوک نه شي ژغورلی. په رښتیا چې هغه ډیر زغمونکی او ښه ښښونکی دی."** دا په دې معنا چې هر څه هره لحظه د الله پاک د کنترول لاندې دي او د هغو شتون یوازې د الله په اجازه بهیر مومي.

ابراهیم: له دې کبله له الله پرته بل هیڅ ځواک نه شــته. نو هر کله چې زه وایم زه دا کار ترسره کوم، اصلا دا الله دی چې هغه خلق کوي او زه فکر کوم چې دا زه ترسره کوم.

مراد: بالکل سمه ده. د الله له خوا خلق شویو او د روح له خوا درک شویو برداشتونو کې هیڅ ډول مداخله نه شـــي کیدی. هغه څه چې الله موږ ته راښـــیي هغه موږ وینو. ممکنه نه ده چې ســـړی دغه برداشتونه بدل او یا تر اغیز لاندې راولي. په دې مرحله کې د تقدیر موضوع په ښـــه ډول روښـــانه کیدی شي. زموږ تقدیر هغه څه دي چې په دې نړۍ کې یې چې له برداشـــتونو جوړه ده او الله پیدا کړې ده وینو. موږ د پیښو یوه ټاکلې لړۍ چې موږ یې د ژوند په توګه درک کوو لکه د یوه فلم په څیر وینو. هغه څه چې موږ درک او یا احســـاس کؤ هغه څه دي چې له مخکې نه موږ لپاره مقرر شوي دي. قرآن د ســـورة الانســـان په ۳۰ آیت کې دا موضوع په واضح ډول بیان کړې ده. **"او تاسې خوښه نشئ کولی مګر هله چې د الله خوښه شي"**. د سورة الانفال په ۱۷ آیت کې هم راغلي دي چې **"...او تا نه دي ویشتلي کله چې تا ویشتل کول بلکې الله پاک وویشـــتل."** همدا حقیقت د سورة الصافات په ۹۶ آیت کې داسې راغلی دی: **"الله تاســـې او ستاسې اعمال پیدا کړي دی."** دا ټول آیاتونه ښیي چې سړی د الله له ارادې خپلواک نه دی.

عایشـــه: خو موږ زیاتره داسې اصطلاحات اورو لکه "هغه تقدیر تیرباسه" او یا "هغه د تقدیر قرباني وګرځیده."

مـــراد: دغه اصطلاحات له جهـــل، او د تقدیر پر حقیقت له نه پوهیدو او د الله له ابدي قدرته له ناخبرۍ ســـرچینه اخلي. تقدیر موږ په عمومي ډول داسې تعریفولی شو چې "د تیر، اوسمهال او راتلونکي په اړه د الله پوهې ته تقدیر وایي."

احمد: مراده ته لږ نوره تشریح هم ورکولی شې؟ هغه پیښې چې لا نه وي ترسره شوې څنګه معلومیدی شي؟

مراد: که موږ وایو چې یو ټاکلی شـــی نه دی پیښ شـــوی هغه د بشر له لید څخه وایو. موږ لپاره هومره څه پیښ شـــوي دي چې موږ ترې خبـــر یو په بله وینا زموږ په اند هرڅه ځکه نه دي پیښ شوي چې موږ یې علم نه لرو. خو الله زمان او مکان ته محدود نه دی. بیشـــکه چې زمـــان او مکان الله پیدا کړي دي. له دې کبلـــه تیره، حاضره او راتلونکې زمانه د هغه لپاره یو ډول دي. هر څه "پیښ" شوي دي.

عایشه: نو له دې معلومیږي چې "د تقدیر تیرباسل" په څیر اصطلاحاتو کارول ناسم دي.


مراد: ته رښتیا وایې عایشې. یو بشر نه شي کولی په خپل تقدیر کې بدلون راولي. له تقدیر اخوا بله چاره نه شته. د بیلګې په توګه، یو سړی نه شي کولی خپل عمر اوږد او یا لنډ کړي. دا خبره په قرآن کې د سورة سبا په ۳۰ آیت کې داسې بیان شوې ده: "له تاسې سره د داسې یوې ورځې د راتګ ژمنه ده چې نه به تاسې یوه لحظه له هغې وروسته او نه به ترې وړاندې شئ." له دې څخه پوهیږو چې د چانس، تصادف او یا بخت په څیر مفاهیم اصلا هیڅ نشته. هر څه هغسې پیښیږي چې الله تعین کړي دي او دا چې څه وخت ته یې تعین کړي دي. دا د سړي په واک کې نه ده چې بدلون په کې راولي او یا یې مخنیوی وکړي. په بله وینا، انسان هیڅ دا ډول ځواک نه لري.

ابراهیم: کله چې خلک مړه کیږي، کومه پیښه کیږي او یا ناروغه شي او یا کارونه د هغوی په خوښه نه ترسره کیږي هغوی یو ډول بغاوت ته مخه کوي. اوس زه پوه شوم چې دا څومره احمقانه کار دی.

مراد: څرنګه چې هره لحظه د الله له خوا خلق شوې ده، هرڅه چې موږ وینو تر شا یې یو دلیل، هدف او حکمت دی. هر څه د یوه هدف لپاره خلق شوي دي، یو سوداګر الوتکې ته پورته کیږي چې لندن ته لاړ شي خو په وروستیو لحظو کې ورته یاد شي چې خپل بکس یې په میدان کې پرېښی دی او له الوتکې را کښته کیږي. الوتکه همدا مهال پرواز کوي او یو ځای کې لویږي او دغه تجار نه مري. په داسې حالاتو کې که څوک د تقدیر په مفهوم پوه نه وي کیدی شي ووایي چې، "هغه له مرګه وتښتید، هغه خپل تقدیر بدل کړ." هره لحظه چې دی تیروي په حقیقت کې د هغه د تقدیر یوه برخه ده. الوتکې ته ختل، بکس هیرول، د الوتکې رالوېدل او هغه تعبیر چې یو سړی له بهره د دې پیښې په تړاؤ کوي ټول له وخته په تقدیر کې تعین شوي دي. دلته هیڅ بدلون نه دی رامنځته شوی. په حقیقت کې، تقدیر په بشپړ ډول جوړ شوی دی او په ټول ژوند واکمن دی. تقدیر د خلقت له لومړنۍ لحظې ټاکل شوی دی.

ابراهیم: په دې مانا هر څه چې موږ تجربه کؤ، دې نړۍ ته د زموږ له راتګه مخکې تعین شوي او یوازې الله ته معلوم دي. آیا ستا هدف همدا دی؟

مراد: هو، زه به دا خبره د قرآن په یوه بل آیت سره روښانه کړم. الله خلکو ته داسې خبر ورکوي: **"ای محمده! ته چې په هر ځای کې یې او د قرآن هره برخه لولې او**



**ای خلکو! تاسي چې هر څه کوئ نو موږ پر تاسو شاهدان یو، ان په هغه حالت کې هم چې تاسې په خپلو کړو کې ښه بوخت یاست ."** (سورة یونس: ۶۱) لکه چې موږ له دې آیته پوهیږو، هر څه چې پر ځمکه پیښ شوي او یا به پیښیږي ان د کائناتو له خلقته مخکې د الله په نزد ریکارډ شوي دي. له دې کبله، ان مخکې له دې چې تاسې دې نړۍ ته راشئ، ان هغه وخت چې ستاسي مور، پلار او یا نیکه هم نه و پیدا شوی، الله پوهیده چې تاسې به له موږ سره دا بحث لرئ.

عایشه: زه غواړم په یوې بیلګې سره د تقدیر په اړه یو بل ناسم پوهاوی هم روښانه کړم. زه یو څوک پیژنم چې د پوستکي په سرطان اخته شه. داسې ویل کیدل چې هغه ډیر لنډ وخت لري خو له هیواده بهر لاړ تداوي یې وکړه او روغ شو. په دې وخت کې ما له ډیرو خلکو واوریدل چې ویل یې، "هغه مرګ ته ماتې ورکړه" او "هغه خپل عمر اوږد کړ."

مراد: لکه چې تاسې هم پوهیږئ، ژوند لنډیدی او یا اوږدیدی نه شي. دا د دې سړي تقدیر و چې ناروغ شو، مرګ ته نږدې و، تداوي یې وکړه او بیرته روغ شو. دا ټول په یوه ټاکلې لړۍ کې ترسره شول، خو اصلاً، پایله یې له مخکې ټاکل شوې وه.کله چې موږ په حقیقت پوه شو موږ به هغه ستونزې په اسانۍ سره اوارې کړو چې مخکې پرې هیڅ نه پوهیدو.

هر عمل چې په دې انځورونو کې هر شــیبه ترســره کیږي د دې ســړي د زوکړې نه ډیر پخوا د هغه په تقدیر کې ټاکل شوي دي. هغه څه چې دی تر ســره کوي اصلاً هغه لار تعقیبوي چې تقدیر یې له مخکې ورته ټاکلې ده. د موټر پر لور تګ، دروازې ته لاس اوږدول، د لاســتي نیول، د دروازې خلاصول، موټر ته ننوتل، په موټر کې کښیناستل، د دروازې بندول او دا ټول حرکات د هغه په تقدیر کې له وړاندې موجود دي.


تر ټولو مهمه خبره داده چې الله یوازینی مطلق واکمن دی او ټول شیان یې په خپل علم کې احاطه کړي دي. هغه موږ ته د غاړې له رګه هم نږدې دی. هر څه د هغه په واک کې دي. هر څه ټاکل شوي او په خورا هیښنده توګه یې تنظیم کړي دي. هر انسان هغه څه مشاهده کوي چې د هغه لپاره له مخکې نه ټاکل شوي دي. دا د راتلونکي لپاره هر ډول معنوي او مادي اندیښنې او وېره له منځه وړي. دا د دې نړۍ په وړاندې د یوه انسان لیوالتیا او حرص راکموي او بې ارزښته کوي. او یوازې د الله رضا ورته ارزښت پیدا کوي. نو په دې مانا چې دا د هغه وخت پیل دی چې یو سړی هر څه هسې چې په رښتنې مانا دي په سمه توګه مشاهده او درک کوي. هغه نور د الله ځواک او واکمنې منې چې د ټولو شیانو مطلق واکمن او لوړ خالق دی.

ابراهیم: هغه څه چې ته وایې ډېر مهم او د ژور فکر دي. آیا پخوا وختونو کې داسې کسان ول چې په دې شیانو ناسم پوه شوي و او یا ناسم یې تعبیر کړي ول؟

مراد: هو، له ګمراهیو ډکو ګمانونو بیلابیل ډولونه پخوا پر خلکو حاکم ول. ځینو مادې ته د یو انفرادي نظر په ترڅ کې داسې ویل، "له عبادته څه فایده چې الله پاک هرڅه پخپله کوي" او بیا به یې عبادت پرېښوده. ځینو ویلې چې، "خلک بې ځایه هڅه کوي،"او بیا به یې له تمبلۍ ډک چلند خپلاوه او هیڅ کوښښ او یا مجاهده یې نه کوله. همدا راز، داسې کسان هم و چې له دې ټولو زیات ګمراه و او ځان به یې له الله سره برابراوه (بیشکه چې الله پاک له دې شیانو ډېر اوچت دی). د سورة الانعام ۱۴۸ آیت د هغو خلکو په اړه چې له ګمراهیو ډک دا ډول نظریات یې خپل کړي دي داسې وایي: **"ژر دی چې مشرکان به ووایي که الله غوښتي وای نو نه به موږ او نه به مو پلرونو شرک کړی وای اړ به موږ کوم څیز حرام ګڼلی وای. هو! له دوی بخوانیو کافرانو هم همدا ډول حق درواغ ګڼلی و تر څو چې زموږ غذاب یې وڅاکه. ای محمده! ورته ووایه له تاسې سره کوم علمي دلیل شته چې زموږ په وړاندې یې کېږدئ؟ تاسې یوازې په ګمان پسې منډې وهئ او تاسې پرته له اټکلیانو بل څه نه یاست."** لکه چې پورتنی آیت وایي هغوی یوازې د ګمان پیروي کوي نه رښتیا وایي او نه پر سمه لار دي.

عایشه: دا یوه ډېره مهمه مسئله ده. کیدی شي په دې اړه لږ نور هم دقیق شې؟

مراد: الله دا نړۍ د ازموینې د ځای په توګه پیدا کړې او بشریت ته یې رسولان او کتابونه لیږلي دي چې په هغو کې یې دوی ته سمه لار بیان کړې او مسئولیتونه یې ورته روښانه کړي دي. موږ، چې په دې ازمایښت ځای کې فزیکي برداشتونو ته



فرق نه کوي چې که يو سړی هر څه تجربه کوي، دی يوازې د هغه تقدير په اډانه کې ژوند کوي چې الله ورته خلق کړی دی. که ناروغ شـــي، يا کومه ترافيکي پيښه وکړي او يا هم جراحي عمليات شي، له خطره د هغه راوتل او ټولې هغه پيښې چې له دې وروسته دا سړی تجربه کوي ټولې له وړاندې د هغه په تقدير کې ليکل شـــوې دي. هغه څوک چې ترافيکي پيښه يې کړې ده او بيا له هغې روغ وتلی دی، خپل تقدير يې نه دی بدل کړی بلکې هغه ځکه دا ستونزې وليدلې چې، د پيښې رامنځته کيدل او له هغې روغيدل د ده په تقدير کې ليکل شوي و.

محدود يو مانا چې، پر موږ د هغو غبرګونونو مســئوليت دی چې د دې برداشتونو په وړاندې يې ښيو. بالاخره د هغو اعمالو په ځواب کې چې موږ يې د دې برداشتونو په لړۍ کې ترسره کوو، جنت او يا دوزخ ته ځو.

عايشه: موږ هيڅ نه کؤ خو بيا هم هرڅه کوو، آيا دا سمه ده؟

مراد: عايشې، ستا پوښتنه دوه اړخه لري. لومړی بهرنی اړخ يا ظاهر. له دې زاويې سړی د هر څه په وړاندې مسئول دی. موږ په فزيکي توګه دې دنيا پورې منحصر يو او زموږ روحونه د هغو پيښو تر اغيز لاندې دي چې د برداشتونو په نړۍ کې رامنځته کيږي. الله موږ ته داسې حواس راکړي دي چې که موږ وږي شو نو بايد دغه فزيکي برداشـــت د خوراک پر برداشت بشپړ کړو. که موږ په فزيکي ډول ناروغ يو، موږ د ډاکټر او دوا برداشـــتونو ته مخه کوو. په خلقت کې د دې ټولو شـــيانو لپاره يوه ابدي پوهه او دليل شته دی. دويم يې د پوښتنې باطني اړخ او هغه دا دی چې سړی د ژوند

پر بنسټیزه مانا پوه شي چې د برداشتونو په مرسته د زمونږ په وړاندې انځورېږي- او همدارازه، حقیقت هم وپیژنو. هغه چا چې دا حقیقت موندلی پوه شوی دی چې له الله پرته بل هیڅ قدرت نشته او دا چې سړی د بهرنۍ نړۍ یا چاپیریال له اصلیت سره مستقیم تماس نه لري او ټول قدرت د الله په لاس کې دی. نو، په دې ډول دا سړی دغه ژوند او نړۍ په سم ډول ارزولی شي.

ابراهیم: مانا هغه څوک چې له دې موضوع خبر وي هم که مریض شي ډاکتر ته ځي او درمل اخلي او د دې کارونو په کولو هغه په دې هم پوهیږي چې په خپل تقدیر روان دی؛ الله دا مرض را پیدا کړی او شفا یې کوي؛ او هغه باید د دې تعبیر په رڼا کې غبرګون وښیي، همداسې ده؟

مراد: هغه څه چې تا وویل د سورة الشعراء په څو آیاتونو کې راغلي دي: **هغه ذات چې زه یې پیدا کړی یم او لار راته ښیي. او هغه ذات چې خوراک او څښاک راکوي. او چې ناروغ شم نو روغتیا را کوي. او هغه ذات چې مړ کوي او بیرته مي را ژوندی کوي. او هغه ذات چې هیله من یم د حساب په ورځ به زما ټول ګناهونه وبښي** (سورة الشعراء: ۷۸-۸۲) که یو څوک په دې پوه شي چې ټول قدرت له الله سره دی او د هغه ترڅنګ بل هیڅ مرستندوی او یا دوست نشته، په بشپړ اخلاص سره یې پر الله ایمان راوړی او د هغه عبادت یې کړی دی. تر هغې چې دی له دې خبر وي، له دنیاوي ویجاړونکو او کورګډو اغیزو نه به خلاص وي. هغه دوا اخلي خو پوهیږي چې یوازې الله شفا ورکوي.

احمد: خو تا د هغو شیانو په اړه هیڅ ونه ویل چې ما د دې دنیا پورې تړي. زما کور، زما نوم، هغه شتمني چې ما دومره کلونو کې راټوله کړې ده، او هغه زما ماشومان چې زما له مړینې وروسته زما نوم ژوندی ساتي. که زه ستا خبرې منم نو باید دا هم ومنم چې زه د دې شیانو له اصلیت سره هیڅ تړاؤ نه لرم. او باید داسې وګڼم چې زه یوازې په ذهن کې د هغو له کاپۍ سره سروکار لرم.

مراد: احمده د دې لپاره که ته وغواړې زمونږ پر نني بحث فکر کولی شې خو سبا به ارومرو زمونږ وروستي بحث ته راځې. د هغو خبرو زیاته برخه چې زه به یې سبا وکړم ستا او هغو خلکو لپاره خورا په زړه پورې دي چې ستا په څیر فکر لري.

احمد: ارومرو، دا به زما لپاره د خوښۍ ځای وي چې سبا راشم. په هر حال، زه نه غواړم له داسې څرګند حقیقته انکار وکړم؛ دا به پر حقیقت له پوهیدو سره سره له هغه

مخ اړول وي. خو یو څه نورې خبرې هم دي چې زما سر باید پرې خلاص شي.

ابراهیم: زما په ذهن کې د دې حقایقو په اړه چې هرڅه زما په دماغ کې له برداشتونو جوړ دي، زه بهرنۍ نړۍ او یا چاپیریال سره مستقیم اړیکی نه لرم، د روح څرنګوالی او د الله شتون په اړه هیڅ ډول پوښتنه نه ده پاتې. زه هیله لرم چې دا موضوع سبا لږ نوره هم وغزو. تر هغې به زه یو څه نورې پوښتنې هم برابرې.

عایشـــه: مراده، ولې داســـې هیښنده حقیقت یو څه کســـان ناکراره کوي؟ د حقیقت نه اوریدل او پر هغه د سترګو پټول خو هغوی ته هیڅ کومه ګټه نه لري.

مراد: ته یوه ورځ لري چې په دې خبره فکر وکړې. سبا چې کله موږ بیا کښینو، تاسې به د خپلو ټولو پوښتنو ځوابونه ولرئ.



""""فیلسوفانو د یونان له پیره راپدیخوا
په ماشین کې د اروا اټکل کاوه په دې
مانا چې د یوه سړي منځ کې وړوکی
سړی دی او د هغه وړوکي سړي په
منځ کې بل وړوکی سړی او دا بهیر تر
لا یتناهي روان دی. "زه" یا هغه
موجود چې دماغ په کاروي چیرته دی؟
درک او پوهیدل اصلا څوک کوي. او یا
لکه د اسیسي سینټ فرانسیس چې
وایي، 'هغه څه پسې چې موږ ګرځو
هغه څه دي چې لیدل کوي'."
برنارډ روسل





# درېیمه ورځ

بحث د احمد په کور کې کیږي.

احمد: دوستانو، تاسو به ارومرو بې صبره یاست خو کوښښ وکړئ چې ځان پوه کړئ. که ما ښه نیت نه درلودی نو آیا زه به هره ورځ هرې ناستې ته راتلم چې په دې موضوع ځان پوه کړم؟ زه غواړم پر حقیقت پوه شم خو لکه څنګه چې سړي عمر تیریږي، شیان لږ نور هم سخت کیږي.

مراد: احمده داسې مه وایه. هیڅ څوک بې صبره نه دي. یاد کړه چې پرون موږ څه ویلي و-پر یو څه پوهیدل او یا نه پوهیدل؛ د یو څه منل او نه منل ټول ستا په تقدیر کې دي. او هیڅ څوک د دې قدرت نه لري چې تقدیر بدل کړي. نو څرنګه چې موږ پر دې پوهیږو، زموږ مسئولیت دی چې رښتیا ووایو، خو تاسې هم د ا حق لرئ چې یو څه وټاکئ؟

عایشه: مراد رښتیا وایي.

ابراهیم: مراده تا له ځانه سره یو کتاب هم راوړی دی. موږ نن په څه غږیږو؟

مراد: دا قرآن دی. ما چې مخکې کومې بیلګې له قرآنه ورکړې هغه مې له یاده قرآءت کړې. دا ځل مې قرآن له ځانه سره راوړ چې تاسې هر یو یې پخپله ولولئ او پخپلو سترګو یې ووینئ. نن که ستاسې اجازه وي راځئ چې د هغه چا له ستونزو ډک ژوند وڅیړو چې د دې مادي نړۍ له حقیقت څخه ناخبره دی او هغه دلایل هم وڅیړو چې له حقیقت سره د مقابلې لپاره یې وړاندې کوي.

عایشه: په دې به زما پوښتنې هم ځواب شي.

ابراهیم: زه هم لیواله یم چې ستا خبرې واورم.

مراد: زه به اوس تاسې ته د قرآن څو آیاتونه تلاوت کړم. لکه چې موږ د دې آیاتونو په اړه غږیږو، موږ ټوله هغه موضوع چې له دوو ورځو راهیسې پرې غږیږو یو ځل بیا تکرارؤ. که تاسې د هغو شیانو په اړه چې تر اوسه مو پرې خبرې کولې څه شک لرئ نو همدا یې وخت دی چې خبرې پرې وکړو.

ابراهیم: زه له دې خبرو سره هیڅ مخالفت نه لرم. زه د یوه داسې حقیقت په اړه پوه

شوم چې هر وخت زما د سترګو په مخکې دی، او زما ټول لرلید اوس بدل شوی دی. هر څومره چې فکر پرې کوم هومره یې اغیز د ژوند په هر اړخ کې مومم. اوس زما د ژوند هره لحظه ما ته ارزښــت او مانا پیدا کړې ده. اوس ما ته هر څه یوه معجزه ښکاري. خو دا هم راته څرګنده شوه چې نور څه هم باید زده کړم.

عایشه: ما مخکې هم پر الله ایمان درلود خو هغه څه ته چې ما مخکې د ایمان په سترګو کتل او پر الله د حقیقي ایمان تر منځ ډېر زیات توپیر دی. په هر ځای کې د هغه نښانې وینم او د هغه ستر ذات، قدرت او صفات پیژنم. ما مخکې یوازې د یوې پیښې پرمهال او یا د امتحانه مخکې دعا کوله. د روزې په میاشــت کې به ټوله کورنۍ روزه وه او کله چې به ما د مړینې په اړه فکر وکړ ډېره به ډاریدلم. او س زه پوه شـــوم چې زه بایــد الله ډېر یاد کړم او د هغه په اړه فکر وکړم. زما په ټولنه کې ټول خلک هغســې ژونــد او فکر لري چې ما مخکې درلود. زه غواړم هر څومره چې ژر کیږي په ټولو حقایقو پوهه شم او له خپلې کورنۍ او ملګرو سره یې شریک کړم.

مراد: احمده...

احمد: ما نه غوښتل چې دا ټکی رابرسیره کړم خو اوس یې په هر حال رابرسیره کوم. زه نور هیڅ شــک نه لرم خو اوس هم دا ماته ســخته ده چې دا نوي زده کړي حقایق خپل ورځني ژوند کې پلي کړم. زما هدف دادی چې په ورځني ژوند کې ډېر داســې عوامل دي چې زما ذهن بوخت ساتي د سړی پام ګرځوي او بیا دا ورته ستونزمنه وي چې دا موضوع په ذهن کې وساتي.

مراد: موږ به لږ وروســته دې خبرې ته راشو. لکه چې مخکې هم ما یادونه وکړه په قرآن کې بې شــمیره داســې آیاتونه شته دي چې بیانوي ټول قدرت له الله سره دی. او داچې الله ټول شیان احاطه کړي او هغه یوازینی واکمن دی. زه به څو آیته تلاوت کړم. لومړی د سورة البقرة ۲۵۵ آیت دی:

**الله یــو ذات دی، پرته له هغه هیڅوک د بلنې وړ نشــته، تــل ژوندی دی. او د ټولو کایناتو بشپړه پالنه کوي نه یې پرمابښی نیسي او نه خوب. په آسمانونو او ځمکه کې پراته ټول شیان د هغه دي. څوک به وي چې د هغه له اجازې پرته د هغه په وړاندې د څه سپارښــت وکړي؟ په هغو ښــه پوهیږي چې د خلکو په وړاندې دي او په هغو هم چې ترې وروسته دي. دوی د الله جل جلاله د علم هیڅ برخه نشي ترلاسه کولی، مګر یوازې هغه څه چې د الله پاک خوښــه شي. د کرسي پراختیا یې هومره ډیره ده چې آسمانونه او ځمکې پکې ځای شوي دي. او د هغو ساتنه یې نه ستړی کوي ډېر**

**پورته او خورا لوی ذات دی.**
په دې او نورو آیاتونو کې چې د دې موضوع په اړه دي د الله صفات بیان شوي دي او لکه چې موږ مخکې وڅېړل، د خلکو د عقیدې برعکس، موږ وینو چې الله هره لحظه هره پېښه کنترولوي، او داچې هغه هر وخت په هر ځای کې دی او هغه یو مطلق ذات دی. د همدې موضوع په اړه موږ د سورة البقرة په ۱۱۵ آیت کې تلاوت کړ چې، **"ختیځ او لویدیځ ټول د الله دي. په کوم لور چې مو مخ کړهمغه د الله پاک د طاعت لور دی. بې شکه چې د الله هر څه پراخ او په هر څه ښه پوه دی"**

عایشه: زه یوه مسلمانه یم، خو ما هیڅکله قرآن نه دی تلاوت کړی. ما هیڅ فکر نه کاوه چې دا موضوع به په دومره وضاحت په قران کې بیانه شوې وي.

مراد: خلک پر حقیقت د پوهیدو په موخه د الله د کلام پر ځای، چې د بشریت د لارښوونې لپاره یې رالیږلی دی، د نورو خلکو خبرو پسې ځي. دا د پوهې او حقیقت د پلټنې یوه ډېره ناسمه طریقه ده. له هر سړي سره د قرآن پر سر حساب کیږي او مسئولیت لري چې وې لولي، آیتونه یې زده او عمل پرې وکړي. خو زه فکر کوم چې تاسې وخته د دې خبرې په ارزښت پوه شوي یاست.

احمد: ما هم، لکه د عایشې په څیر د پریمانه فرصتونو سره سره یو ځل هم قرآن تر دې دمه نه دی لوستلی.

مراد: اوس هم دومره ناوخته نه دی چې پیل یې کړئ. د حقیقت د درکولو او تیروتنو نه د ګرځیدلو لپاره کوم عمر نه دی ټاکل شوی. خو داسې ده چې که څومره ژر یو څه پیل کړې هومره ښه وي.

احمد: ته رښتیا وایې.

مراد: الله، چې هر شی یې خلق کړي دي، د قرآن او پیغمبرانو له لارې یې په ښکاره ډول بیان کړي دي چې کوم کار سم او نیک دی او کوم کار ناسم او بد دی. په دې اړه، پرته له هغو آیتونو چې ما تلاوت کړل، په قرآن کې نورې داسې لارښوونې هم شته چې موږ ته د ژوندانه په هر اړخ کې لارښوونه کوي او سمه لار راښیي. اوس د سړي تر ټولو لویه دنده داده چې د خالق له لوري راغلې لارښوونې، اوامر، نواهي ولولي، ځان پرې پوه او تطبیق یې کړي. د دې کار د نه ترسره کولو لپاره هیڅ بهانه نشته. که نه لکه چې د سورة النور په ۳۹ آیت کې راغلي دي، **"او کوم کسان چې**

**کافران شوي دي عملونه يې د يوې لويې دښتې هغه سراب ته ورته دي چې تږی پرې د اوبو ګمان وکړي. خو کله چې هلته ورشي هيڅ نه وي. او هلته د الله عذاب ومومي، نو حساب يې ښه پوره ورکړي. او الله خورا ژر حساب کونکی دی"** يو خيالي ژوند پرته له شعوره به سړی يوه پښيمانه پای ته ورسوي.


احمد: دوستانو، زه په دې ورسيدلم چې نور تردد بې ګټې دی. اصلاً، ما د دې تيرو درې ورځنيو بحثونو پايله له مخه اټکل کړې وه. په هغه څه کې چې موږ خبرې پرې کړې زه هيڅ تيروتنه او د اختلاف ټکی نه شم پيدا کولی. زه بالاخره پوه شوم چې زما تردد د خپل ځان تير ايستنه ده. هو، زه بايد اعتراف وکړم چې زه له حقيقته ډاريدلم. ښايي تاسې د بايللو لپاره دومره څه ونلرئ خو ما نه غوښتل په يوه لحظه کې هغه څه له لاسه ورکړم چې په کلونو کلونو مې راګټلي ول. دا ټول پرته له دې چې د يو چا يو بې منطقه نيوکه وي چې فکر کوي شتمني، ماشومان، کورنۍ او دنده به يې په يوه لحظه کې له منګولو ووځي بله څه نه و. خو د ځان تير ايستل حقيقت نه شي بدلولی.

مراد: مبارک احمده. ډير لږ خلک دي چې د ستا په څير غبرګون ښيي. خو اوس هم يو شی شته چې تاسې يې ناسم درک کوئ. تاسې هيڅ څه نه دي بايللي، بلکې ډير څه مو ترلاسه کړي دي ځکه تاسې خو پوهيږئ چې په دې نړۍ کې الله تاسې په دې نعمتونو ازمايي او دا يې تاسې لپاره جنت ته د داخليدو يوه وسيله جوړه کړې. تاسې بايد په ياد وي چې که سړی په دې حقيقت پوه شي چې موږ په خپل ذهن کې د دې نړۍ يوازې يوه کاپي تجربه کؤ دا د هغه په زيان نه دی. بلکه څرنګه چې هغه د حقيقت پر اصليت پوه شويدی ډېر څه يې ترلاسه کړي دی. کله چې يو سړی درک کړي چې هغه له کاپۍ شويو برداشتونو پورې اړه لري او دا چې هر څه د هغه په ذهن کې د الله له خوا کېښودل کيږي او دا سړی همدې پوهې ته په پام سره عمل کوي نو بيا به هر هغه څه ته چې د هغه د شتمنۍ يوه برخه ده هومره ارزښت ورکوي چې ورسره ښايي. هغه هيڅکله دا نه هيروي چې اصلي هدف خو يې هغه پالونکی الله دی. سربيره پردې، څرنګه چې پوهيږي هر څه د الله يوه پيرزوينه ده، په هغو شيانو کې چې ده ته ورکړل شوي دي لا زياته خوښي احساسوي. هغه په پرله پسې ډول د دې پيرزوينو مننه کوي. په ضمن کې پوهيږي چې دا هر څه هغه ته د ازماينښت لپاره ورکړل شوي دي او دی يې حقيقي مالک نه دی له دې کبله د هغو په مينه کې نه بنديږي او نه مغروره کيږي. نو څرنګه چې هغه د الله له رضا سره سم ژوند کوي له کبله به يې له مړيني وروسته تر دې هم ښکلی ژوند ولري.

احمد: ما هيڅکله دا حقيقت له دې اړخه نه و ارزولی.

**تاسې ته د خپل رب له لورې حق ښوونکي دلايل راغلل،
چا چې وليدل د ځان ګټه يې ده او څوک چې ترې ړوند
شو نو د ځان تاوان يې دی (سورة الانعام: ۱۰۴)**





که یو سړی په پوره پام سره هغه څه په نظر کې ونیسي چې دلته ویل کیږي، د خپل ځان لپاره به یو خورا په زړه پورې او فوق العاده شیان ومومي. هغه دا چې، د دې نړۍ هر څه یو خیال دی.

مراد: د سورة الانعام په ۷۰ آیت کې د الله امر دی چې: **"او هغه خلک پریږده چې له خپله دینه یې لوبه او تماشا جوړه کړې ده او دنیاوي ژوند غولولي دي. په قرآن پند ورکړه هسې نه چې د خپلو کړو وړو له کبله داسې پریوزي چې پرته له الله به یې نه څوک دوســت وي او نه سپاربښت کونکی. که د خلاصون لپاره هر څه وړاندې کوي ترې اخیستل کیږي به نه. دا هغه خلک دي چې د خپلو کړو له کبله هلاکت ته سپارل شــوي دي. او د خپل کفر او بې لارۍ له کبله به یې ګرمې اوبه څښــاک او دردناک عذاب په برخه وي."** له دې آیاته معلومیږي هغه خلک چې مغروره او کبرجن دي او خپل ځان ورته خدای ښکاري (بیشکه چې الله له دې ټولو ډېر لوړ دی)، کله چې درک کړي هغوی مازې خیالي موجودات او یا د سینما په پرده انځورونه دي د خپلې بیوزلۍ

او کمزورۍ له کبله یو ځېلی حالت احساسوي. د هغو خلکو ذهن چې د دې نړۍ پر لور رامات دی کله چې درک کړي چې د هغوی شتمني کومه رښتینې بڼه نه لري خورا زیات غمجن کیږي. دا حقیقت چې د هغوی نړۍ، بچیان، شتمني، سرمایه د هغوی بانفوذه ملګري ټول د الله په لاس کې دي. په دې حالاتو کې دوی دوه لارې لري – یا خو دوی د الله پر لور ځي او د دنیا له مینې سره مخه ښه کوي او یا د دې برعکس کوښښ کوي چې حقیقت هیر کړي او دې نړۍ ته نوره هم غیږه پرانیزي. خو څرنګه چې هغوی په دې ښه پوهیږي چې ځان تېرباسي هغوی تل یو ناکراره، له اندېښنو او تاوتریخوالي او ربړو ډک ژوند تیروي.

احمد: مراده زه سمه لار ټاکم. زه پوه شوم چې له حقیقته تښته هیڅ ګټه نه لري. او هغه څه چې تا وویل زما تصمیم یې نور هم قاطع کړ.

مراد: ته رښتیا هم داسې معلومیږې چې سمه لار دې غوره کړي وي. ښکلا په حقیقت کې ده.

عایشه: مراده، څومره چې زه پوهیږمه، زیات خلک دي چې یا خو نه پوهیږي چې د هغوی له خوا لیدل شوي برداشتونه په دماغ کې لیدل کیږي او یا داده چې له حقیقته سترګې پټوي. دغه خلک وتلي لیکوالان، ساینسپوهان او پروفیسوران دي. په تیره بیا هغه کسان چې د دې موضوع له تخنیکي اړخونو ښه خبر دي یا خو نه غواړي چې نوره یې وپلټي او یا داده چې داسې ښیي چې په دې اړه په هیڅ نه پوهیږي. د بیلګې په توګه، آیا هغه کسان چې د بیولوژۍ او طب په برخه کې تخصص لري له دې موضوع سره آشنا نه دي؟

مراد: اصلا، احمد دا پوښتنه لږ مخکې ځواب کړه. یقینا چې یو شمیر کسان په یوه یا بل ډول له دې موضوع څخه خبر دي. که دا حقیقت دې پورې محدود وی چې موږ د شیانو له اصلیت سره نه بلکې یوازې د هغو له کاپي سره په دماغ کې تماس لرو نو تاسې باور وکړئ چې په منلو کې به یې هیڅ ستونزه نه درلوده. خو هر هغه سړی چې ومني له دماغه بهر نړۍ سره مستقیم تماس نه لري او هر څه د برداشتونو په ډول د هغه په دماغ کې دي دا هم درک کوي چې، خوښ دی او که نا خوښه، اړه دی چې یو بل ګام هم اوچت کړي. هغه چاچې خپل ټول ژوند پر مادیاتو او خواهشاتو بنا کړی وي داسې ښکاروي چې له دې موضوع هیڅ خبر نه دی ځکه چې آن د دې حقایقو را یادول هم هغه ته د الله شتون، د حساب ورځ، جنت او دوزخ ورپه زړه کوي. که دغه سړی د ویښ ضمیر خاوند وي پر خپل ژوند به د دې حقیقت نه وروسته له سره غور

وکړي. خو کله چې ځینې خلک حقیقت سره مخامخ شي داسې وي لکه له ویرې سره چې مخامخ شوي وي. په پای کې هغوی د ویري او اندیښني له کبله د ځان تیر ویستل خوښــوي. لکه چې احمد وویل، هغوی فکر کوي چې د حقیقت په هیرولو او د سترګو په پټولو ســره به هغوی ځانونه وساتي. سورة الروم د هغو خلکو په اړه چې د حقیقت د درکولو ظرفیت نه لري داسې فرمايي:
**"دوی د دنیاوي ژوند پر ښکاره اړخ پوهیږي او له آخرته بالکل ناخبره دي"** (سورة الروم: ۷)

احمد: زه له خپلې تجربې داسې پوهیږم چې خلک د خپلو خواهشاتو غلامان دي. زما هدف دا دی چې تاســې به له ځینو شــیانو خبر یاست خو دا په لومړي ځل ډېره ناآشنا خبره ده چې ســړی فکر وکړي هغه څه چې تاســې د شتمنۍ په نامه پیژنئ تاسې یې اصلي مالکان نه یاســت او هر څه د هغه الله تر کنترول لاندې دي چې تاســې یې پیدا کړي یاســت. پر دې سربېره، که ته خپل ځان یو ډېر بانفوذه، ذکي او کامیاب سوداګر بولې چې یو ښه ټولنیز موقف هم لري نو ته د خیال په نړۍ کې یې او په ذهن کې دې غیر حقیقي افکار تاویږي. خو که ته داســې ســړي ته ووایې چې "دا هر څه چې ته تجربه کوې- دا ستا پیسې، ستا کارخانې، ستا کارکونکي، ستا سکرتران، ستا شتمني، کور او موټر دا ټول ســتا په دماغ کې انځوریږي او ته د هغو له اصلیت ســره هیڅ مستقیم تړاؤ نه لرې" نو ته د هغه پر لوړو هیلو تیری کوې.

مراد: فقد لکه دا آیت چې بیانوي: **"خلکو ته د شهوتونو مینه ښایسته کړی شوې ده چې له ښځو، ځامنو، د سرو او سپینو زرو له راټولو شوو خزانو، په نښه کړی شوو اسونو او کښتونو څخه عبارت دي. دا څیزونه د دنیوي ژوند ګټه ده. او د ورتګ ښه ځای له الله سره دی."** (سورة آل عمران:۱۴)

احمد: هو دقیقا لکه چې دا آیت وایي.

مراد: په قرآن کې د شــیطان په ذکر کې الله موږ ته خبر راکوي لومړی شــی چې دی یې راکاږه او د هغه د بغاوت لامل شــول له مادیاتو ســره د هغه مینه او د هغه لیوالتیا وه چې ګویا مطلق موجود دی. دا شیطاني مینه داسې ده چې سړی له ډېرو لوړو هیلو ســره دې نړۍ پورې تړي. "خیالِي موجود" هغه اصطلاح ده چې مغروره او ځانپاله خلک یې نه شــي منلی. دا یو منلی حقیقت دی او تاســې یې د خپل ژوند په اوږدو کې په ښکاره ډول لیدلی شئ. خو له دې سره سره دنیاوي حرص او د مادیاتو له لاسه تلل ځینــې خلک له دې ډول جوتو افکارو له خپلولو منع کوي. په قرآن کې د شــیطان پر

تکبر او حرص په ځانګړي ډول تېنګار شوی دی. دا دی زه یې تلاوت کوم:
**ټولو پرښتو سجده وکړه، پرته له ابلیسه چې له سجده کوونکو څخه نه و. الله پاک وفرمایل: ابلیسه! څه شي منع کړې چې سجده دې ونه کړه په داسې حال کې چې ما درته امر کړی و؟ ابلیس وویل: زه له آدمه غوره یم ځکه چې زه تا له اوره پیدا کړی یم او هغه دې د خټې نه.** (سورة الاعراف: ۱۱-۱۲)

عایشه: مراده مننه ستا له حوصلې چې موږ ته دې دا مهم حقیقت روښانه کړ. ما په دې موضوع ډېر زیات فکر وکړ او نه غواړم چې لږ جزیات هم له لاسه ورکړم. خو الله دا توفیق راکړ چې نن مې هیڅ بې ځوابه پوښتنه به ذهن کې نشته. هر څه را ته روښانه شول.

مراد: ربښتیا دا خو زه باید له تاسې مننه وکړم چې دا فرصت مو برابر کړ. خو عایشې بیړه مه کوه. اوس هم یو څو ټکي پاتې دي چې زه یې باید ووایم. که تاسې خوښه وي راځئ چې تلویزیون وګورو. د دې موضوع پورې اړوند څو نور ټکي به رابرسیره شي.

ابراهیم: وګورئ زما د خوښې ننداره روانه ده. ما همدا اوس فکر کاوه: څه کیدل چې یو څوک تللي وی او کوربه ته یې ویلي وی؟ چې دا لیدونکي، دا اوریدونکي چې هغه تشویقوي یوازې د هغه په ذهن کې دي. دا چکچې او دا بې شمېره راپورتران چې هغه پسې منډې وهي، د هغه شتمني او کورنۍ هم یوازې برداشتونه دي چې د هغه په ذهن کې دي. همدا لحظه د هغه ژوند د الله تر نظر لاندې وړاندې روان دی او هغه ذکاوت لپاره چې دی ستایل کیږي د هغه خپل نه دی؛ نو هغه به څه ډول غبرګون وښیي.

عایشه: کیدی شي په دې خبره نا خوښه شي. په دې چینل کې وګورئ، دلته پر اقتصاد یو بحث روان دی. اوس به تاسې هغوی ته څه ډول ووایئ چې دا ټول اقتصاد، پیسې، بانکونه، اقتصادي پړسوب، مشتریان، ټول یو برداشت دی. که تاسې هغوی ته ورشئ او ووایئ، "دا شیان ستاسې په ذهن کې دي. دا هیلې مو شاته پرېږدئ. یوازې د الله رضا پسې وګرځئ او هغه ته ځان نږدې کړئ"، هغوی به داسې عوصه کیږي لکه له یوه ماشومه چې ګوډۍ وتښتوې.

مراد: هو، ته ربښتیا وایې عایشې. د دې خلکو تر ټولو لویه تیروتنه دا ده چې خلک حقیقت هیروي او د حرص له لامله دې نړۍ پورې ځان تړي. که خلک الله ته ځان تسلیم کړي، په هغه توکل وکړي او له حقیقته څخه د تیښتې مخنیوی وکړي، بیا به



ورته ووايه چې هغه د چا لپاره دي چې په ځمکه او آسمانونو کې دي؟ ورته ووايه چې يوازې د يو الله دي. هغه پر ځان مهرباني لازمه کړې ده. او تاسې به خامخا د قيامت په يقيني راتلونکې ورځ کې راټول کړي. خو هغه خلک يې نه مني چې ځانونه يې په تاوان کې اچولي دي (سورة الانعام: ۱۲)

خوشحاله وي، په هوساینې او سوله کې به ژوند کوي. الله تل هغه چا ته سمه لار ښيي چې هغه ته ورګرځي. د ستونزو پرمهال د حل تر ټولو ښې لارې هغوی ته ورښيي. زه غواړم پر دې موضوع تاسې ته یو آیت تلاوت کړم:

**...او هر څوک چې د الله نه وډاریږي نو الله به ورته له ستونزو څخه د وتلو یوه لار پیدا کړي. او په داسې ډول به رزق ورکړي چې دی یې ګمان هم نه کوي. او څوک چې پر الله توکل وکړي نو الله یې بس دی. ځکه چې الله خپل کار ته په ښه توګه رسیږي...** (سورة الطلاق: ۲-۳)

عایشه: دا یو مهم حقیقت دی. که داسې خلک چې تاسې یې د تلویزیون پر پرده وینئ خپل دنیاوي حرص پریږدي او الله ته رجوع وکړي له هغو ستونزمنو حالاتو به وژغورل شي چې هغوی په کې دي.

مراد: هو عایشې. د دې تر څنګ چې تا لږ مخکې هم یادونه وکړه که هغه خلک چې د شیانو له اصلیت سره هیڅ تړاؤ نه لري او سره له دې یې بیا هم خپل مال ګڼي خپل اصلي حالت درک کړي، ډېر خراب حالت ته به ورسیږي. ممکنه نه ده هغه افسوس او درد سړی تشریح کړي چې بالاخره یې یو سړی هغه وخت احساسوي چې پوه شي ټول عمر یې د غیر حقیقي شیانو پسې په هڅه کې تیر کړی دی. وګورئ چې د داسې کس حالت په سورة کهف کې څه ډول بیان شوی دی:

**ای محمده! ووایه چې هغه څوک در په ګوته کړو چې ټولې کړنې یې زیانمنې دي؟ هغه خلک دي چې د دنیوي ژوند ټولې هلې ځلې یې بابیزه او بیا هم ګومان کوي چې په ښو کړنو اخته دي.** (سورة الکهف: ۱۰۳-۱۰۴)

احمد: زه اوس پوه شوم چې زه باید په خپل ټول عمر له سره غور وکړم او الله ته ځان تسلیم کړم.

عایشه: له پوهیدو وروسته به زه هم د پخوا په څېر پاتې نه شم. لکه چې مراد وویل زه هم یو نوی ژوند پیلوم. زه به نور خپل ژوند له دې شیانو سره په ذهن کې تیروم. څرنګه چې له الله پرته بل ځواک نه شته زه له دې وروسته د هغه په اړه معلومات پیدا کوم چې ځان ور نږدې کړم او د هغه له رضا سره سم عمل وکړم. البته د دې کار لپاره به زه ژر تر ژره قرآن را نیسم او دا به زده کوم چې د الله رضا په څه کې ده.

ابراهیم: زموږ ټولو نظر یو دی. په دې درې ورځو کې زما ټوله نړۍ او پلانونه بدل شول. څرنګه چې زه په یوه پوهنتون کې ښوونه کوم زه د لږ څه زیات مسئولیت

احســـاس کوم. دا اوس زما وجداني وظیفه شـــوه چې پر زده کړیو شیانو نور هم ژور فکر وکړم او هغه چا ته یې هم وښیم چې خبر نه دي.

مراد: ملګرو، په یاد لرئ چې په دې تیرو ورځو کې موږ د یو لړ مهمو حقایقو په اړه خبرې وکړې. تاسې ته به داسې ښکاري چې دا ټول حقایق یوازې ما تاسې ته تشریح کول. خو داســـې نه ده زه هم ستاسې خبرو ته غوږ وم. هیڅوک دا ورتیا نه لري چې په یوازې ســـر فکر او یا بحث وکړي. موږ یوازې د هغو شیانو خبرې او تفکر کولی شو چې الله زموږ په تقدیر کې تعین کړي دي. په دې بحث کې هغه خبرې وشوې چې الله ټاکلې وې او په دې ســـره یې موږ ته د خپل قدرت یادونه وکړه. د دې په رڼا کې باید موږ ټول د هغه مرســـته او دعا وغواړو. حضرت سلیمان علیه السلام به لکه چې آیت راښیي داسې دعا کوله چې:
**...او توان راکړه چې هغه ښـــه اعمال ترســـره کړم چې ته یې خوښـــوې او د خپلې مهربانۍ له مخې مې په خپلو نیکو بنده ګانو کې داخل کړه.** (سورة النمل: ۱۹)